سره میاشت

نشریهٔ سه ماهه جمعیت هلال احمر افغانی
سال شصت و پنجم نشراتی، دور هفتم، شماره هشتادم

سره میاشت په هر ځای کې د هر چا لپاره

افغاني سره میاشت په خپلو بشرپالو مرستو او خدمتونو د پېښځپلو او بېوزلو کورنیو رنځ او کړاو کموي او د هغوی د انساني کرامت ملاتړ کوي.





د افغاني سرې میاشتې ټولنې عمومي سرپرست رییس شاغلی مولوي مطیع الحق خالص پېښځپلو او بېوزلو کورنیو ته د ملک سلمان خیریه بنسټ مرسته شوي توکي ویشي.



تقلیل آلام بشری، حمایت از حیات، مواظبت از صحت و احترام به مقام انسان اهداف اساسی جمعیت هلال احمر افغانی را شکل می دهد.

بسم الله الرحمن الرحیم

عن ابی امامه رضی الله عنه ان النبی صلی الله علیه وسلم قال: (داوو مرضاکم بالصدقه)

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي :(تاسو په صدقاتو د خپلو ناروغانو درملنه وکړئ. (حدیث شریف)

د امتیاز څښتن:

د افغاني سرې میاشتې ټولنه

خپرندویه اداره

د اطلاعاتو او خپرونو ریاست

مسوول مدیر: گل آقا فجر

گرافیک دیزاینر: سمسور فخری

د مجلې مسوول سکرتر: مولوی نجیب الله حنفی

خبرنگار: هدایت الله عزیزی

عکاس: عمادالدین فاریابی

شماره تماس:

۰۷۲۸۹۰۰۶۷۴

پست بکس: ۳۰۶۶

آدرس:

افغانستان، کابل، ناحیه پنجم، افشار سیلو، دفتر مرکزی جمعیت هلال احمر افغانی

info@arcs.af www.arcs.af

Afghan Red Crescent Society

زمستان سال ۱۴۰۰ هـ.ش

فهرست

جلوه نوید بخش بهار در فضای صلح و امنیت.....

سعودي عربستان او په سختو شپبو.....۱

هلال احمر ترکیه در کنار هلال احمر افغانی.....۳

ستاسې مرستې په شفافیت ویشو!.....۵

تفاهمنامه فی ما بین جمعیت ملی و نهاد صحی.....۷

بشري مرستې په سیاست پورې مه ۹

میدان وردګ او غزني ته د افغاني ۱۱

په دوه میاشتو کې له ۳۵۳۸۸ بېوزلو ۱۲

ما مرستون را برای خود مکان مناسب و امن.....۱۴

برای ۷۵۵۸۴۹ نفر خدمات صحی عرضه.....۱۶

شعر او ادب.....۱۷

د تقنیني سندونو بیا کتنې اهمیت.....۱۹

۹۰ طفل مریض برای تداوی به کشور جرمنی اعزام.....۲۳

گزارش یک ساله خدمات جمعیت هلال احمر.....۲۴

په اسلام کې مرسته او بنیګڼه.....۲۶

حقوق بشر دوستانه بین المللی.....۲۹

د خپلې خوښې "رضاکارانه" خدمتونو.....۳۲

کمک های اولیه صحی و وقایه از صدمات ۳۵



جلوه نوید بخش بهار در فضای صلح و امنیت

سرمقاله:

الله سبحانه و تعالی را سپاسگزاریم که اینک بار دیگر در آستانه فصل زیبا، گوارا، رویش، پرورش و ستایش بهار قرار داریم، فصل که به عروس فصل ها تشبیه شده است، هوا و فضای عطر آگین و مشک بیز و مناظر قشنگ آن برای همه دلپذیر و سرور آفرین است.

وصف بهار ستودنی است. در این فصل، طبیعت با شگوفه ها و سبزه ها آرایش یافته و با شادابی و طراوت جلوه می کند. از نسیم ملایم بهار، سرود و نغمه سرایی پرنده گان خوش الحان، شرشر آبشاران، جوش و خروش و تلاطم چشمه سارها، جویبار ها و دریا ها، نفیر نای

شبان در دامنه های کوه ها و پهنه صحراها و بسی مزایای دیگر بهار هر جنبنده ای بهره می گیرد و برایش خوشایند است.

با فرارسیدن بهار جانوران، خزنده گان و پرنده گان که از شدت سرما و کرختی زمستان در مغاره ها و لانه ها پناه برده اند دو باره جان تازه می گیرند، از لانه ها و آشیانه های شان بیرون می خزند، به پرواز در می آیند، به حرکت و گردش می پردازند و از گرمایش ملایم بهار نفع می برند.


بهار فصل پند و اندرز نیز برای ما انسان ها است، اشجار و نباتات که در زمستان سرد پژ مرده، کرخت و بی جان می شوند با فرا رسیدن بهار دو باره جان تازه می گیرند شاداب و خرم می شوند.

امیدواریم سالی را که پیشرو داریم، عاری از حوادث طبیعی وغیر طبیعی باشد. مردم کشور ما در آرامش کامل قرار داشته باشند و بسوی ابادی، عمران، انکشاف و آسایش باشنده گان کشورگام های متین و سازنده در تمام عرصه های زنده گی برداشته شود.

جمعیت هلال احمر افغانی تلاش می ورزد، در سال نو فعالیت ها و خدمات بشردوستانه خود را به متأثرین حوادث و سائر نیازمندان بیشتراز پیش توسعه دهد تا رنج و آلام آن ها را کاهش بخشد.

این نهاد سعی می نماید ارتباطات نزدیک را با جمعیت های ملی مماثل و سائر نهاد ها و سازمان های خیریه ملی و بین المللی بمنظور جلب و همکاری آن ها به مردم آسیب پذیر کشور تحکیم و گسترش دهد تا با این وسیله کمک ها و خدمات بیشتر و مؤثر تر را برای نیازمندان فراهم کرده باشد.

(اداره)





سعودي عربستان او په سختو شيبو کې د افغانانو لاسنيوی

د سعودي عربستان له خيريه بنسټونو سره د افغاني سړي مياشتې د سرپرست رييس مولوي مطيع الحق خالص د پرلپسې هڅو پر بنسټ د سعودي عربستان د ملک سلمان خيريه بنسټ له لوري کابل ته د مرستې د راتګ اقدام واخيستل شو. پر همدې بنسټ د روان کال د لينډی پر ۲۵، ۲۶ او ۲۷ نېټو د سعودي عربستان د ملک سلمان خيريه بنسټ د مشرانو له لوري شپږ الوتکې مرسته کابل ته راغله، چې ټولټال ۱۹۷ ټنه خوراکي او غير خوراکي توکي په کې وو. يادې مرسته د کابل په نړيوال هوايي ډګر کې په کابل کې د سعودي عربستان د سرپرست سفير استاد مشعل الشمري، افغانستان کې د ملک سلمان خيريه بنسټ د مشر فهاد سعد القحطاني او د ملک سلمان د خيريه بنسټ د بېړنيو مرستو مشر فهد العصيمي په شتون کې افغاني سړي مياشتې ته وسپارل شوه.

په يادې مرسته کې په ۵۰۲۲ کارتنونو کې په هر کارتن کې ۱۰ کيلو وريژې، ۱۰ کيلو اوړه، د لوبيا او نخودو ۲۰ کوتی، ۲ کيلو بوره، ۲ کيلو خرما او ۳ لټره غوړي موجود وو. همدا ډول په يادې ۱۹۷ ټنه مرسته کې ۵۷۶ بستې غير خوراکي توکي وو، چې په هره بسته کې ۲ تختې فرشونه، ۴ کمپلې، ۱ پشه خانه، ۲ د اوبو سطلونه، ۲ د اوبو بوشکې، د پخلنځي ګڼ لوښي او يو شمېر نور توکي شامل وو.

پر يادې مرسته سربېره د ملک سلمان خيريه بنسټ له لوري د خوراکي او غير خوراکي توکو ۱۹۸۰ ټنه نوره



مرسته د ځمکې له لارې راغله، چې په کې ۳۰۰۰۰ کارتنه خوراکي توکي شامل وو. د یادې مرستې په هر کارتن کې ۵ کیلو وریژې، ۵ لیټره غوړي، ۳ کیلو دال، ۵ کیلو لوبیا او ۳ کیلو بوره شامل وو. د ځمکې له لارې د ملک سلمان خیریه بنسټ په راغلې مرسته کې ۶۰۰۰۰ بوجی ۲۰ کیلویي اوړه، ۲۰۰۰۰ کمپلې اود ژمنیو توکو ۱۰۰۰۰ بستې شاملې وې، چې په هره بسته کې ۱ د سړیو پتو، ۱ ښځینه ټیکری، ۸ جوړې جرابې، د ماشومانو ۴ ژمنی خولی، ۲ نارینه او ښځینه بنینونه او ۱ د ماشومانو جمپر شامل وو.

د ملک سلمان خیریه بنسټ له لوري افغانستان ته د راغلې مرستې ویش له راتګ یوه اونۍ وروسته د روان ۱۴۰۰ لمریز کال د مرغومي په لومړۍ نیټه د سعودي عربستان د سرپرست سفیر استاد مشعل الشمري او د افغاني سرې میاشتې د سرپرست عمومي رییس مولوي مطیع الحق خالص له لوري په کابل کې د افغاني سرې میاشتې په مرکزي مرستون کې ۲۰۰ بهوزله کورنیو ته د موادو پر وېشلو پیل شو.

د یادې مرستې د وېش د پیل پر مهال د افغاني سرې میاشتې سرپرست عمومي رییس مولوي مطیع الحق خالص له سعودي عربستانه د مننې په ترڅ کې وویل، چې "افغاني سره میاشت هڅه کوي د هېواد په روان بد وضعیت کې د خپلو هېوادوالو لاسنیوی وکړي او په همدې موخه یې دا مهال د هېواد په ګڼو ولایتونو کې د مرستو د ویش لړۍ چټکه کړې". نومورې وویل، چې "افغاني سره میاشت به د سعودي عربستان له لوري ټولې کېدونکې مرستې په پوره شفافیت تر اړمنو کورنیو ورسوي".

د یادې مرستې د وېش د پرانیستې په مراسمو کې د سعودي عربستان سرپرست سفیر استاد مشعل الشمري وویل، چې "په روانو شپو کې د افغاني سرې میاشتې پر اوږو دروند بار پروت دی؛ ترڅو وکولی شي افغانان له بد حالته وباسي؛ سعودي عربستان به افغانان یوازې پرېنږدي او په راتلونکي کې به افغانستان ته خپلې بشري مرستې ډېرې او پراخې کړي".

افغاني سرې میاشتې ته د ملک سلمان خیریه بنسټ له لوري ۲۱۷۷ ټنه سپارل شوې مرسته په دوه میاشتو کې په ټول هېواد کې په بشپړ شفافیت ۳۰۰۰۰ کورنیو ته وویشل شوه، چې پای یې د افغاني سرې میاشتې د سرپرست مرستیال ملا نورالدین ترابي په لاس کابل کې ۳۰۰ بهوزله کورنیو ته د مرستې پر ویش ومونډ.



هلال احمر ترکیه در پهلوی هلال احمر افغانی

مولوی مطیع الحق خالص سرپرست ریاست عمومی جمعیت هلال احمر افغانی با رئیس هلال احمر ترکیه محترم جهاد ارگین و معاون فدراسیون بین المللی محترم داکتر کریم کینک بتاریخ ۲۳ جدی سال ۱۴۰۰ شمسی نشست آنلاین برگزار کرد. موصوف از رئیس هلال احمر ترکیه خواست که با افغانستان کمک های بشری نماید، همواره در کنار جمعیت هلال احمر افغانی در برابر مشکلات شانه به شانه بیاستد، صدای جمعیت ملی را به گوش جهانیان برساند، برای مشاهده بحران بشری به افغانستان سفر کند و حالات را از نزدیک تماشا کند.

به اساس این دیدار رئیس هلال احمر ترکیه و معاون فدراسیون بین المللی محترم کریم کینک به تاریخ ۱۵ دلو سال ۱۴۰۰ شمسی به کابل سفر نمودند. نامبرده در میدان هوایی کابل به خبرنگاران گفت که مردم ترکیه در کنار مردم افغانستان قرار دارد، افغان ها مردم شجاع وغیرتی هستند و بسیار زود از وضعیت بد فعلی رهایی خواهند یافت. محترم کینک با مولوی مطیع الحق خالص سرپرست ریاست عمومی جمعیت هلال احمر افغانی در دفتر کارش ملاقات نمود.

در این نشست مولوی مطیع الحق خالص گفت که ترکیه و افغانستان تعلقات و مشترکات زیاد تاریخی دارند و ما خوش هستیم که با هلال احمر ترکیه در افغانستان مشترکاً کار می نمائیم. موصوف علاوه کرد که هلال احمر افغانی برای جهانیان یگانه راهی است که به اطمینان خاطر از این راه کمک های شان را بدسترس مردم نیازمند قرار داده می توانند.



در ایـن نشسـت رئیـس هـلال احمـر ترکیـه و معـاون فدراسـیون بیـن المللـی محتـرم کینـک گفتنـد! کـه مـردم ترکیـه درد افغـان هـا را در وجـود خـود احسـاس مـی کننـد و بـرای دسـتگیری شـان دسـت بـکار شـده انـد. موصـوف گفـت کـه اکنـون افغانسـتان بـه مـواد خوراکـی، حفـظ الصحـه طفـل و مـادر، آب پـاک و آمـوزش بسـیار ضـرورت دارد، بـه همیـن منظـور هـلال احمـر ترکیـه در تمام کشـور ترکیـه بـه همراهـی چنـد نهـاد خیریـه دیگـر کمپایـن جمـع آوری کمـک بـه افغانسـتان را بـه راه انداختـه اسـت و کمـک هـای جمـع آوری شـده بـه زود تریـن فرصـت بـه افغانسـتان خواهنـد رسـید.

دو روز بعـد از ایـن نشسـت بتاریـخ ۱۸ دلـو کمـک هـای تعهد شـده ترکیـه در بنـدر تورغنـدی هـرات از طـرف محتـرم جهـاد ارگیـن سـفیر ترکیـه در افغانسـتان بـه محتـرم مـلا نورالدیـن ترابـی معـاون جمعیـت هـلال احمـر افغانـی سـپرده شـد. کمـک هـای متذکـره مقـدار ۷۵۰ تـن کـه شـامل چپرکـت هـا، کیـت هـای حفـظ الصحه، وسـایل صحـی، قالیـن، فـرش، ویلچیـر معیوبیـن و مـواد خوراکـی بـرای ده هـزار خانـواده مـی شـود. ایـن مـواد خوراکـی شـامل برنج، روغـن، لوبیـا، نخـود، بـوره، نمـک، مکرونـی، رب بادنجـان رومـی و مـواد زیـاد دیگـر مـی باشـد.

جمعیـت هـلال احمـر افغانـی بـا هـلال احمـر ترکیـه مشـترکاً کمـک هـای متذکـره را در تمـام ولایـات کشـور با شـفافیت کامـل بـرای ده هـزار خانـواده توزیـع نمـود. بعضـی از ایـن کمـک هـا از جملـه کیـت هـای حفـظ الصحـه، قالیـن، فـرش، جـای نمـاز، ویلچیـر و وسـایل دیگـر بـه وزارت هـای صحـت عامـه، حـج و اوقـاف، شـهدا و معلولیـن و وزارت تعلیـم و تربیـه سـپر ده شـد.

بـه تعقیـب قطـار حـاوی مـواد کمکـی اول ترکیـه، ریـل دومی مملـو از مـواد کمکـی ترکیـه بـه تاریـخ ۴ حـوت بـه تورغنـدی رسـید. ایـن کمـک هـا شـامل ۹۲۱ تـن مـواد خوراکـی و غیـر خوراکـی بـوده کـه بـه تعقیـب کمـک هـای ترکیـه در ۱۷ ولایـت بـرای ۸۵۰۰ خانـواده توزیـع گردیـد.

بـه همیـن گونـه قطـار سـومی حـاوی ۹۲۴ تـن مـواد غذایـی و غیـر غذایـی کشـور ترکیـه بـه تاریـخ ۲۳ حـوت در بنـدر تورغنـدی بـه نماینـده جمعیـت هـلال احمـر افغانـی تحویـل داده شـد.



نړۍ ته د افغاني سړي میاشتې ډاډ:

ستاسې مرستې په شفافیت ویشو!

د افغاني سړي میاشتې سرپرست عمومي رییس مولوي مطیع الحق خالص د ۱۴۰۰ لمریز کال د کب پر دویمه نېټه د افغاني سړي میاشتې د سکرتر جنرال ډاکټر محمد نبي برهان او د نړیوالو اړیکو د رییس غلام حبیب حسام په ملتیا افغانستان ته د بشري مرستو د جلب په موخه قطر هېواد ته سفر وکړ.

د یاد سفر پر مهال ښاغلي مولوي مطیع الحق خالص د کب پر ۴مه لومړۍ لیدنه دوحه کې د قطر د سړي میاشتې له سکرتر جنرال علي بن حسن الحمادي سره ترسره کړه. نومورې د قطر د سړي میاشتې له سکرتر جنرال غوښتنه وکړه، چې افغانستان دا مهال سترو بشري مرستو ته اړتیا لري او باید د قطر سره میاشت په دې برخه کې پراخه ونډه واخلي. د قطر د سړي میاشتې سکرتر جنرال ښاغلي علي بن حسن الحمادي وویل، چې مونږ په افغانستان کې د یوې با اعتماده ټولنې په لټه کې وو؛ له نیکه مرغه افغاني سره میاشت یوه ناپلوه او خیرپاله ټولنه ده؛ مونږ به په راتلونکي کې د افغاني سړي میاشتې له لوري خپلې مرستې پراخې کړو او هم به په کابل کې خپل دفتر پرانیزو. همدا راز د قطر سړي میاشتې ژمنه ورکړه، چې په راتلونکي کال کې به د پخوانیو پروژو تر څنګ ۱۷ نوې پروژې په افغانستان کې پلې کړي.

د افغاني سړي میاشتې سرپرست رییس په همدې ورځ د قطرالخیریه بنسټ له رهبرۍ سره هم ناسته ترسره کړه. په دې ناسته کې د قطرالخیریه بنسټ رهبرۍ ته د افغانستان د روان بشري وضعیت په اړه معلومات ورکړل شول او ترې وغوښتل شول، چې افغانستان ته مرستې راولېږي او له بشري بد ناورین څخه د افغانانو



په ژغورلو کې د افغاني سرې میاشتې ګامونه غښتلي کړي. د قطرالخیریه رهبری ژمنه وکړه، چې دوی به له افغانستان سره د مرستو په اړه لاس په کار کېږي او د افغانانو لاسنیوی خپل مسوولیت بولي.

ورپسې د افغاني سرې میاشتې عمومي سرپرست رییس مولوي مطیع الحق خالص د کب پر ۸مه د کاناډا له سفیر الیاس ارفاني، د المان له سفیرې میرمن لولالوسی چیلر، د ایټالیا له سفیرې وینسینزو سوینا، د جاپان له سفیر تاکاشي، د مالیزیا له سفیر محمد خیرالدین، د نیدرلینډ له سفیر ایرنسټ پروسمان، د سپین له سفیر ریکارډو لوسا، د سویزرلینډ له سفیرې میرمن الګزندرا مینیسال، د انګلستان له سفیر جوش نورتون، د امریکا له سفیر پیټر دوف، د نړیوال فدراسیون د سکرتر جنرال مرستیال کیسیور کاسټیلانوس، د نړیوال فدراسیون د اسیا پسیفیک سیمه ایز رییس الکساندرمیتیو او د قطر د سرې میاشتې له سکرتر جنرال علی حسن الحمادي سره په پلازمینه دوحه کې ګډه ناسته ترسره کړه.

په یاده ناسته کې له افغانستان سره پر بشري مرستو، د بشري خدمتونو د ښه ترسره کولو لپاره د پیسو په لېږد کې پر ستونزو او ګټو نورو ستونزو تفصیلي خبرې وشوې. د افغاني سرې میاشتې عمومي سرپرست رییس ګډونوالو ته د افغاني سرې میاشتې د وروستیو فعالیتونو په هکله تفصیلي مالومات ورکړل او همدا راز یې د سرې میاشتې په کړنو کې د استقلالیت او ناپلوی په اړه کره مالومات ورکړل. د افغاني سرې میاشتې عمومي رییس له نړیوالو او خیریه موسسو وغوښتل، چې له افغانانو سره په دې ستونزمن وخت کې پراخې مرستې ترسره کړي. نومورې د غونډې ګډونوالو ته ډاډ ورکړ، چې ستاسې مرستې به په پوره ډاډ او شفافیت پر اړمنو افغانانو وویشل شي.

پر دې سربېره په دې سفر کې د افغاني سرې میاشتې سرپرست رییس د کویت د ټولو خیریه موسسو له استازي سره هم ولیدل. نومورې له افغاني سرې میاشتې سره د یو ملیون ډالرو په ارزښت د غذایي موادو د برابرولو او مرستو ژمنه وکړه.



تفاهمنامه فی ما بین جمعیت هلال احمر افغانی و نهاد خیریه الخدمت در مورد معالجه کودکان مصاب به بیماری سوراخ قلب منعقد گردید

این تفاهمنامه که توسط محترم مولوی مطیع الحق خالص سرپرست ریاست عمومی جمعیت هلال احمر افغانی و محترم پروفیسور داکتر حفیظ الرحمن رئیس نهاد صحی الخدمت پاکستان بتاریخ ۱۵ حوت سال ۱۴۰۰ شمسی منعقد گردید که وظایف و مکلفیت های هر دو جانب را مشخص می نماید.

هدف این تفاهمنامه معالجه کودکان متولد شده با مشکلات سوراخ قلب بخصوص کودکان خانواده های فقیر که توانایی مالی



معالجه کودکان بیمار شان را ندارند، می باشد.

در این تفاهمنامه وظایف و مسؤولیت های نهاد صحی الخدمت پاکستان شامل ترتیب چک لست پیش نیاز ها برای بررسی طبی ابتدایی کودکان مصاب به بیماری سوراخ قلب، منظوری لست نهایی شده، رسیده گی به مراقبت های قبل، در جریان و بعد از عمل جراحی، تقبل هزینه ادویه و دیگر مواد مصرفی مورد نیاز، فراهم ساختن محل اقامت و غذای سه وقت به کودکان بیمار و اعضای خانواده شان، ایجاد هماهنگی با مؤسسه انجمن پاک – افغان و دیگر مؤسسات مرتبط و تشویق نهاد های دیگر تمویل کننده بمنظور توسعه بیشتر این پروژه و معالجه بیشتر کودکان بیمار، می باشد.

به همین گونه وظایف و مسؤولیت های جمعیت هلال احمر افغانی در بر گیرنده مواردی چون، تشخیص و شناسائی کودکان مصاب به بیماری سوراخ قلب در شفاخانه های محلی، ترتیب لست های کودکان بیمار به اساس چک لست تهیه شده توسط نهاد الخدمت، توظیف یک داکتر متخصص قلب بمنظور بررسی ابتدایی کودکان بیمار در افغانستان، ترتیب اسناد طبی کودکان بیمار در افغانستان، صدور ویزه و دیگر مسائل قانونی، ایجاد هماهنگی با خانواده ها و اولیای کودکان بیمار جلب حمایت مراجع دیگر جهت توسعه این روند، می شود.

لازم به تذکر است که در گام نخست چندین عمل جراحی با شرایط متذکره صورت می گیرد. در مرحله اول ۱۵ کودک بیمار، در مرحله دوم ۲۵ کودک بیمار تشخیص و جهت تداوی اعزام می شوند. سپس روی انتقال و تداوی کودکان بیمار نامحدود کار صورت می گیرد.

طرفین تفاهمنامه در راستای تشخیص و استفاده از فرصت ها بمنظور تأسیس سیستم جراحی قلب کودکان در کابل مشترکاً کار می کنند، در صورت بروز کدام مشکل در این روند جانبین روی حل آن مذاکره نموده.

د ناروې ناستې ته د افغاني سرې میاشتې سرپرست عمومي رییس:

بشري مرستې په سیاست پورې مه تړئ!

د افغاني سرې میاشتې عموي سرپرست رییس مولوي مطیع الحق خالص د ۱۴۰۰ لمریز کال د سلواغې په دویمه نېټه د اسلامي امارت له لوړ پوړي پلاوي سره په ګډه د ناروې پلازمېنې اوسلو ته د بشري مرستو په اړه له نړیوالو سره د خبرو اترو لپاره سفر وکړ. په یاد سفر کې د افغانستان په اړه د سلواغې پر ۴مه په جوړه شوې غونډه کې د افغاني سرې میاشتې سرپرست رییس مولوي مطیع الحق خالص پر نړیوالو غږ وکړ، چې بشري مرستې په سیاست پورې ونه تړي او له سیاست وراخوا له افغانستان سره پراخې بشري مرستې وکړي.

نومورې له نړیوالو وغوښتل، چې که دوی غواړي افغانستان ته بشري مرستې ولېږي او له شفاف ویش څخه یې ډاډمن واوسي، نو غوره ده چې خپلې نغدي او جنسي مرستې د افغاني سرې میاشتې له لارې افغانستان ته داخلې کړي. د افغاني سرې میاشتې سرپرست





رییس نړیوالو ته ډاډ ورکړ، چې د دوی مرستې به د افغاني سړي میاشتې له لوري په بشپړ شفافیت او امانتداری ارمنو ته رسېږي. نوموړي په تېرو څه باندې پینځه میاشتو کې د افغاني سړي میاشتې له لوري ارمنو کورنیو ته په بې ساري ډول د مرستو د ویش یادونه وکړه او ویې ویل، چې افغاني سړي میاشتې په تېرو پینځه میاشتو کې شاوخوا دوه څلوېښت زره کورنیو سره د خوراکي او غیر خوراکي توکو مرسته کړې او هڅه کوي، چې په افغانستان کې ارمنو کورنیو ته د مرستو ویش لا پراخ او ډېر کړي.

د یاد سفر پر مهال نوموړي د ناروې د سره صلیب له مشر رابرټ مودې سره هم له افغاني سړي میاشتې سره د مرستو پر دوام او پراختیا لیدنه ترسره کړه. په یاده لیدنه کې په افغانستان کې د ارمنو وګړو پر ارتیاو او د افغانستان پر روان بد بشري وضعیت خبرې وشوې. د ناروې د سور صلیب مشر رابرټ مودې د افغاني سړي میاشتې سرپرست رییس ته ډاډ ورکړ، چې دوی غواړي په افغانستان کې خپل فعالیتونه پراخ او ډېر کړي. رابرټ مودې وویل، چې د ناروې سور صلیب له افغاني سړي میاشتې سره اوږه په اوږه د مزل کولو هڅې کوي او مرستې به ډېروي.

د افغاني سړي میاشتې سرپرست رییس مولوي مطیع الحق خالص په دې ناسته کې د ناروې هېواد د سره صلیب له مشره وغوښتل، چې د افغاني سړي میاشتې د کارکوونکو د ظرفیت د لوړولو په برخه کې د دوی لاسنیوی وکړي. ښاغلي مولوي مطیع الحق خالص د ناروې د سره صلیب مشر ښاغلي رابرټ مودې ته ډاډ ورکړ، چې د دوی مرستې به افغانستان کې ارمنو وګړو ته پر وخت په پوره شفاف ډول رسېږي.

پر یادو ناستو سربېره د افغاني سړي میاشتې سرپرست رییس له ګنو نورو خیریه بنسټونو سره هم بهلابهلې لیدنې ترسره کړې او له هغوی یې وغوښتل، چې په افغانستان کې مستقیم د افغاني سړي میاشتې له لارې مرستې پیل کړي او د افغانانو روان بشري ناورین ته تغیر ورکړي.

ناروې ته د افغاني سړي میاشتې د عمومي رییس مولوي مطیع الحق خالص دغه څلور ورځنی سفر د افغاني سړي میاشتې لپاره له ګنو لاس ته راوړنو ډک و.

میدان وردګ او غزني ته د افغاني سرې میاشتې د عمومي سرپرست رییس سفر او ۷۹۳ کورنیو ته د مرستو ویش

د افغاني سرې میاشتې سرپرست رییس مولوي مطیع الحق خالص د ۱۴۰۰ لمریز کال د سلواغې په ۱۳مه نېټه میدان وردګو او غزني ولایتونو ته پر ۷۹۳ کورنیو د مرستو د ویش په موخه سفر وکړ. نومورې لومړی په میدان وردګ ولایت کې ۱۹۳ اړمنو کورنیو ته د ژمنیو توکو د مرستې په ویش کې ګډون وکړ. په یاده مرسته کې هرې کورنۍ ته ٦ بوجۍ اوړه، درې کارتنه خوراکي توکي، دوه بڑستنې او یوه بسته ژمني توکي شامل وو.

نومورې هلته راغونډو مرسته اخیستونکو ته وویل، چې دوی پرلپسې هڅې کوي، چې هېواد ته مرستې را جلب کړي او په پوره شفافیت یې اړمنو کورنیو ته ورسوي. نومورې خبریالانو ته وویل، چې دی هوډ لري، چې د مرستو د جلب په موخه ګڼو بهرنیو هېوادونو ته سفر وکړي او نړیوالو ته د افغانستان د اوسني بشري ناورین هېنداره کېږدي. نومورې خبریالانو ته وویل، چې دی هڅه کوي داسې بنسټیزې پروژې رامنځ ته کړي، چې هېوادوالو ته مو کار پیدا شي او د کار کولو له لارې وکړای شي د ژوند اړتیاوې پوره کړي.

په میدان وردګ ولایت کې اړمنو کورنیو ته د مرستو له ویش وروسته د افغاني سرې میاشتې عمومي سرپرست رییس غزني ولایت ته ولاړ او هلته یې له ماسپښین وروسته ٦۰۰ کونډو، یتیمانو، بې سرپرستو او اړمنو کورنیو ته مرسته وویشله. په یاده مرسته کې هرې کورنۍ ته ۴ بوجۍ اوړه، ۲ کارتنه خوراکي توکي، ۲ بڑستنې او یو شمېر ژمني توکي شامل وو.

د افغاني سرې میاشتې سرپرست عمومي رییس د مرستو له ویش وړاندې خبریالانو سره په مرکه کې وویل، چې دوی د هېواد روان غربت ځپلی حالت له هر چا ډېر درک کوي او هڅه کوي د خپلو هېوادوالو د لاسنیوي لپاره خپلې مرستې نورې هم پراخه او ډېرې کړي. نومورې وویل، چې دوی ته د هېواد د هرې سیمې اړمن وګړي یو برابر دي او د هیڅ توپیر پر بنسټ مرستې نه ویشي.

د افغاني سرې میاشتې عمومي سرپرست رییس په دې یو ورځنې سفر کې په میدان وردګو او غزني کې د افغاني سرې میاشتې د ریاستونو له رییسانو او د جنوب غرب سیمه ییز دفتر له رییس مولوي الیاس خبل ناصري سره هم لیدنې ترسره کړې او نومورو ته یې لازمې لارښوونې وکړې.











په دوه میاشتو کې له ۳۵۳۸۸ بېوزلو او زیانمنو کورنیو سره مرسته

د سرې میاشتې د پېښو د اداري د راپور پر بنسټ سرې میاشتې د ۱۴۰۰ لمریز کال د مرغومي او سلواغې په میاشتو کې د هېواد په مرکز او ولایتونو له ۳۵۳۸۸ بېوزلو، پېښځپلو او بېځایه شویو کورنیو سره د خوراکي او غیر خوراکي توکو مرستې کړې. په دې مرستو کې د ارزګان ولایت په مرکز کې له ۳۶۰۰ بېځایه شویو کورنیو سره د خوراکي توکو، د بامیان ولایت په یکاولنګ او پنجاب ولسوالیو کې له ۲۵۰ سیلاب ځپلو کورنیو سره د خوراکي توکو، د بدخشان ولایت په وردوج او یمګان ولسوالیو کې له ۱۰۰۰ بېځایه شویو کورنیو سره د خوراکي توکو، د بلخ ولایت په نهر شاهي، همدرد او بلخ ولسوالیو کې له ۱۰۰۰ بېوزلو کورنیو سره د خوراکي توکو، د پکتیا ولایت په مرکز او زرمت ولسوالیو کې د واورې له املې له ۶ زیانمنو کورنیو سره د غیر خوراکي توکو، د پنجشېر ولایت په رخه، عنابه، پریان او آبشار ولسوالیو کې له ۲۵۰۰ بېځایه شویو او سیلاب ځپلو کورنیو سره

د خوراکي او غیر خوراکي توکو، د جوزجان ولایت په منجیګک، مردیان او فیض آباد ولسوالیو کې له ۱۰۰۰ وچکالی ځپلو کورنیو سره د خوراکي توکو، د زابل ولایت په مرکز میزان، ارغنداب، سرخکان، نوبهار، شینکی او سیوري ولسوالیو کې له ۲۱۲۲ بېوزله او بېځایه شویو کورنیو سره د خوراکي او غیر خوراکي توکو، د غور ولایت په الفاروق ولسوالی کې له ۷۰۰ وچکالی ځپلو کورنیو سره د خوراکي توکو، د فاریاب ولایت په مرکز کې له ۲۳۰۰ بېوزلو کورنیو سره د خوراکي توکو، د فراه ولایت په مرکز کې له ۹۵ سیلاب ځپلو کورنیو سره د غیر خوراکي توکو، د کابل ولایت په مرکز او ناحیو کې له ۶۴۰۳ بېوزلو او بېځایه شویو کورنیو سره د خوراکي توکو، د کندهار ولایت په مرکز او بېلا بېلو ولسوالیو کې له ۳۰۶۲ بېوزلو او سیلاب ځپلو کورنیو سره د خوراکي او غیر خوراکي توکو، د لوګر ولایت په مرکز کې له ۲۵۰ بېوزلو کورنیو سره د خوراکي توکو، د میدان وردګ ولایت په مرکز ، نرخ او جغتو ولسوالیو کې له ۱۳۰۰ بېوزلو او سیلاب ځپلو کورنیو سره د خوراکي او غیر خوراکي توکو، د نورستان ولایت په مرکز او کامدیش ولسوالی کې له ۱۵۰۰ بېوزلو او سیلاب ځپلو کورنیو سره د خوراکي توکو، د نیمروز ولایت په چخانسور، خاشرود او چهار برجک ولسوالیو کې له ۱۰ سیلاب ځپلو کورنیو سره د غیر خوراکي توکو، د هرات ولایت په مرکز، واګله توت، انجیل، اوبه، پشتون زرغون او چشت شریف ولسوالیو کې له ۵۸۰۰ سیلاب او وچکالی ځپلو او بېځایه شویو کورنیو سره د خوراکي او غیر خوراکي توکو، د هلمند ولایت په مرکز، مارجه او نادعلي ولسوالیو کې له ۲۴۹۰ سیلاب ځپلو او بېځایه شویو کورنیو سره د خوراکي توکو، د بادغیس ولایت په مرکز او قلعه نو ولسوالی کې له ۲۵۰۰ بېوزلو کورنیو سره د خوراکي توکو، د پروان ولایت د کوه صافي او سیاه ګرد ولسوالیو له ۶۰۰ بېوزلو کورنیو سره د خوراکي توکو، د تخار ولایت د مرکز او خواجه غار ولسوالی له ۸۰۰ بېوزلو کورنیو سره د خوراکي توکو، د دایکندي ولایت د نیلي او کینې له ۱۲۵۰ وچکالی ځپلو کورنیو سره، د سرپل ولایت د سوزمه قلعه، مرکز، کوهستانات او بلخاب ولسوالیو له ۷۵۰ وچکالی او سیلاب ځپلو کورنیو سره، د سمنګان ولایت د مرکز له ۱۴۴۰ بېوزلو کورنیو سره، د غزني ولایت د مرکز او اندړو ولسوالیو له ۱۰۰۰ بېوزلو کورنیو سره، د کندز ولایت د مرکز او چهار دره ولسوالی له ۲۰۰۰ بېوزلو کورنیو سره، د کونړ ولایت د مرکز او نرنګ ولسوالی له ۴۰۰ بېوزلو کورنیو سره، د ننګرهار ولایت د مرکز او سره رود ولسوالی له ۴۰۰ بېوزلو کورنیو سره د خوراکي او غیر خوراکي توکو مرسته شوې.

په ټولیزه توګه د مرغومي او سلواغې په میاشتو کې افغاني سرې میاشتې۲۲۰۵۳۰۰ کیلو اوړه، ۳۷۸۰۵۷ لیتره غوړي، ۳۲۶۳۷۵ کیلو لوبیا، ۷۲۹۸۷۶ کیلو وریژې، ۲۲۲۱۲۵ کیلو بوره، ۴۰۴۰۰ کیلو مالګه، ۲۳۹۲۰ کیلو چای، ۲۳۸۲۰ بیسکویت، ۱۰۸۶۴۵ کیلو دال، ۳۰۰۰ کیلو نخود، ۱۲۸۰ پاکټه مکروني، ۴۳۹۵ تختې ترپالونه، ۲۱۸۷ د پخلنځي سیټونه، ۹۶ د اوبو بوشکې، ۱۶۱۰۷ کمپلې، ۲۰۰۰۵ برسټنې، ۵۰۰ جمپرونه، ۶۴۰ قطی د رومیانو رُب، ۱۳۵ نارینه پټوګان، ۸۰۰ چکۍ د لاس وینځلو صابون، ۸۰۰ چکۍ د کالیو وینځلو صابون، ۱۴۹۴۲ ژمنی البسه ۱۳۴۴۶بستې روغتیایي کټونه او ۵۷ د بخار دیګونه په پورته یادو کورنیو ویشل شوي.

مصاحبه با بانو ظاهره مشمول مرستون کابل



ما مرستون را برای خود مکان مناسب و امن می پنداریم و از زنده گی در اینجا راضی و خوشنود هستیم

بی بی ظاهره، باشنده اصلی قریه خواجه شهاب ولسوالی قره باغ ولایت کابل با پنج فرزند خویش هریک: میلاد ۱۳ ساله متعلم صنف نهم مکتب مرستون، فولاد هشت ساله متعلم صنف چهارم، آتینا هفده ساله متعلمه صنف ششم، دیانا دوازده ساله متعلمه صنف ششم و سعدیه نه ساله متعلمه صنف چهارم از مدت دوسال می شود که درمرستون کابل زنده گی می کند.

وی در این مورد که کدام عوامل سبب شد تازنده گی در مرستون را اختیار نماید، چنین اظهارداشت:" شوهرم سروردین در قضیه زخمی گردید چند وقت همرایش برادرانش همکاری مالی می کردند، چند سال بعد برادرانش فوت کردند، به تعقب فوت آن ها بد بختانه شوهرم نیز فوت کرد. هشت سال می شود که بیوه هستم. بعد از فوت شوهرم به مشکلات زیادی رو برو شدم زیرا که مصارف خانه و زنده گی فرزندانم بدوش من بود، بالاخره نا گزیر شدم که در منازل مردم کالاشویی کنم، در مزارع، گندم دروی کنم و کار های شاقه انجام دهم تا از اینطریق نفقه اولاد هایم را فراهم

نمایم. اما در برابر این کار ها مزدی را که در یافت می کردم به هیچ صورت زنده گی خانواده ام را تکافو نمی نمود. همیشه، نسبت به آینده فرزندانم نگران بودم که آینده آن ها چه خواهد شد؟ از اینکه برای آن ها خوراک کافی، لباس و در صورت مریضی شان دوا تهیه کرده نمی توانستم از این رهگذر بسیار رنج می بردم و گاه گاهی اشک می ریختم. دوست و اقارب نیز از ما فاصله گرفتند، با همین مشکلات دست و پنجه نرم می کردم که دوسال قبل پسر کاکا خسرم بنام خیرالدین ما را به مرستون کابل رهنمای کرد و گفت که در مرستون سره میاشت برای خانواده های بی سرپرست و کودکان یتیم تمام امکانات زنده گی طور رایگان فراهم می شود و از آن ها در آنجا بگونه مناسب مواظبت صورت می گیرد. سپس به مرستون مراجعه و عریضه شمولیت دادم، با مشاهده بیچاره گی و وضعیت نابسامانم مسئولین ما را مستحق شمولیت در مرستون دانستند که بعد از طی مراحل قانونی شامل مرستون شدم و اینک مدت دوسال می شود که درمرستون کابل یکجا با فرزندانم زنده گی می کنم."

موصوفه درمورد این که مرستون کابل چه نوع امکانات معیشتی را برایش فراهم کرده است چنین اظهارداشت" ما مرستون را برای خود مکان مناسب و امن می پنداریم و از زنده گی در اینجا راضی و خوشنود هستیم. در اینجا برای ما در مرستون مکان رهایشی مناسب، فرش و ظرف به قدر کافی فراهم شده است همچنان تعداد فامیل ما شش نفر می باشد و هر ماه مبلغ دوازده هزار افغانی بدل اعاشه برایمان پرداخت می شود."

وی از برخورد و رویه نیک کارمندان ومسئولین مرستون اظهار خوشی و رضایت می نماید اما می گوید طبق مقررات وضع شده مرستون، آنها مدت سه سال در مرستون نگهداری می شوند که تا بحال دوسال شان درمرستون سپری شده است. این خانم بیوه اکنون خواهان باقی ماندن در مرستون تا زمان به خود کفایی خانواده اش میباشد.

برای ۷۵۵۸۴۹ نفر

خدمات صحی عرضه گردیده است



ریاست خدمات صحی جمعیت هلال احمر افغانی، گزارش می دهد که در جریان ماه های جدی و دلو سال ۱۴۰۰ شمسی در ۳۴ ولایت کشور از طریق یک باب شفاخانه ۵۰ بستر کوید۱۹ درکابل، یک مرکزصحی جامع در کندهار، ۴۶ کلینیک صحی اساسی، ۲۲ کلینک صحی فرعی، ۳۹ تیم سیار صحی و ۳۱ تیم سیار معافیت کتلوی و کمک های اولیه صحی به سطح جامعه، برای ۷۵۵۸۴۹ نفر در بخش های خدمات صحی ابتدایی، خدمات سراپا، خدمات داخل بستر، تداوی مریضان سوراخ قلب، خدمات مراقبت های قبل، جریان و بعد از ولادت، مراقبت های تنظیم خانواده، ارزیابی تغذی و رشد و نمواطفال، خدمات واکسین، خدمات کمک های اولیه صحی، خدمات سکریننگ، تشخیص، بستر، تداوی، رجعت دهی و اگاهی در مورد مرض کرونا، مشوره دهی در مورد صحت روانی، خدمات و تعلیمات صحی عرضه گردیده است و ادویه لازمه طور رایگان بدسترس شان قرار داده شده است.

شعر او ادب

مرسته

په مصیبت کې مرسته ښه ده هر انسانه سره
رنځ او دردونه شفا مومي له درمانه سره
ټوله نړۍ ده لوی کور ټول انسانانو لره
په یو بل حق دی کورنیو خانه دانه سره
چې کوم وطن کې رنګارنګ مصیبتونه پیښ شي
بشردوستان د مرستې فکر کا وجدانه سره
هغوی به تش په نوم انسان وي پر بل نه غمخوري
بلبلان نه ژاړي خزان کې ګلستانه سره
ای د نړۍ او د هېواد بشرپالونکو خلکو
ځان مو شریک کړئ درد او غم کې له افغانه سره
زمونږ هېواد سلو رنځو مصیبتونو وسو
له وچ کالی مې سترګې ضد کا له ګریبانه سره
ګودڼان، شلان، کونډې رنډې او یتیمان وګورئ
سوال ګران ګرځي تشې لپې له خفګانه سره
بې وزلو زړه لکه کعبه ده ترینه ځار شئ خلکو
خدای به د حج درجه درکړي باغستانه سره
کعبه د هر یو مظلوم زړه طواف مکه کې ښه دی
که د پیسو خاوندان فکر وکړي ځانه سره
یو خوا جګړه، بې روزګاري او وچ کالي مصیبت
بل قیمتي کوي سیالي د لوړ آسمانه سره
له زلزلې او له سیلاب ، طوفان وهلي ځار شئ
حیران پراته دي وران کورو کې له ګریانه سره
راځئ د سړي میاشتې ټولنې سره مرسته وکړئ
دا د بې وزلو کوي مرسته له پلانه سره
حرکت به مونږ برکت به خدای کوي د خیرکاروکې
(مسکینه) ډېر دي نعمتونه پاک سبحانه سره

اسدالله مسکین

شعر و ادب

صدقه

گر کنی خیری بدست خویش کن
خیر خود را وقف هر درویش کن
یک درم کان را بدست خود دهند
به بود زان کز پی او صد دهند
گر ببخشی خود یکی خرمای تر
بهتر از بعد تو صد مثقال زر
هر چه بخشیدی مکن با او رجوع
گر ز پا افتاده از دست رجوع
این بدان ماند که شخصی قی کند
باز میل خوردن آن کی کند
با پسر گر چیزکی بخشد پدر
می‌رسد گر باز گیرد از پسر
ای پسر با مال و زر شادی مجوی
آنچه کس را داده دیگر مگوی
شادی دنیا سراسر غم بود
سور او را در عقب ماتم بود
امر لا تفرح ز دنیا گوش دار
جای شادی نیست دنیا هوش دار
شادمان را ندارد دوست حق
این سخن دارم ز استادان سبق
گر فرح داری ز فضل حق رواست
لیک از دنیا فرح جستن خطاست
ای پسر با محنت و غم خوی کن
روی دل را جانب دلجوی کن

عطار نیشاپوری



د تقنيني سندونو بيا کتنې اهميت

ليکوال: دوکتور لطيف الله قمري

سريزه

په افغانستان کې د نظام په بدلون د تقنيني اسنادو د بيا کتنې او تعديل موضوع د حقوق پوهانو ترمنځ له ورځنيو تودو بحثونو ګڼل کېږي. هر چېرته چې سياسي نظامونه بدلون کوي، نو هلته د قوانينو د بدلون او بيا کتنې بحث را پورته کېږي.

همدې ته په کتو په دې مقاله کې په دې بحث کېږی، چې د تقنيني اسنادو بيا کتنه څه اهميت لري؟ ولې بايد د تقنيني اسنادو بيا کتنه وشي؟ او د تقنيني اسنادو بيا کتنه په څو ډوله تر سره کيدلی شي؟

همدې موضوعاتو ته په دې مقاله کې په دوه مبحثونو کې په لنډ ډول اشاره شوې.

لومړی مبحث - د تقنيني سندونو پېژندنه:

تقنيني سندونه په دې ډول تعريف کولی شوو، چې قانون، تقنيني فرمان، مقرره، اساسنامه او تعديل، ايزاد، حذف، الغاء، تعليق او په هغو کې ضميمه او د حکومت مصوبه ده، چې د تقنيني صبغې لرونکې وي.

(د تقنینـي سـندونو د پرلپسـونـو د تېرولـو قانـون ۳ مـاده ۱ بنـد.)

پورتـه تعریـف تـه پـه کتـو ویلـی شـو، چې تقنینـي اسـناد ټول هغـه حقوقـي اسـناد دي، چـې الزامـي حقوقـي حیثیـت ولـري.

دویـم مبحـث - د تقنینـي سـندونو د بیا کتنـې اهمیـت او ډولونه:

پـه دې مبحـث کـې دوه موضوعـات پـه دوه مطلبونـو کـې تـر بحـث لانـدې نیـول کېـږي. لومـړي مطلـب کـې د تقنینـي سـندونو اهمیـت او پـه دویـم مطلـب کـې د تقنینـي سـندونو ډولونـه.

لومـړی مطلـب - د تقنینـي سـندونو اهمیـت:

دا چـې وضعـي قوانیـن د انسـان کړنـه او اسـتنباط دی، نـو حتمـي ده چـې تېروتنې لـري او اړتیـا لیـدل کېـږي، چـې وخـت پـه وخـت یـې بیـا کتنـه وشـي، تـر څـو هغـه مـواد، چـې د وخـت له غوښـتنو سـره سـمون نلـري، یا یـې صیغه او الفـاظ مغلق، د څـو معنـاو لرونکـي او بـې ګټـې وي، یـا یـې متـن د سیاسـي، اقتصـادي او ټولنیـزو حالاتـو پـه بدلـون سـره د بدلـون اړتیـا ولـري، یـا هـم د ټولنـې لـه لـوړو موخـو او د ټولنـې لـه حاکمـو عقایـدو سـره ټکـر ولـري، نـو پـه دغـه حالاتـو کـې یـا دېتـه ورتـه حالاتـو کـې اړتیـا لیـدل کېـږي، چې د نافـذ قانـون د تعدیـل، ایـزاد، حـذف او الغـاء حکـم وشـي، نـو د دغـه ډول اړتیـا پیـدا کولـو لپـاره د تقنینـي اسـنادو بیـا کتنـې اړتیـا لیـدل کېـږي.

هـر تقنینـي سـند تـل نیمګړتیـا لـري؛ امـکان نـه لـري، چـې هـر تقنینـي سـند دې د ټولنـې ټولـو سـتونزو تـه رسـیدګي وکـړي، ځکـه ټولنـه تـل د بدلـون پـه حالـت کـې وي. نـوي مسـایل او نـوې قضایـا رامنځتـه کېـږي، چـې دا د پخوانـي تقنینـي سـند د بدلـون غوښـتنه لـري. (دوکتـور خضـراوي الهـادي: ضـرورة تعدیـل الدسـتور کأسـاس الاصـلاح النظـام، ص٦)

ځینـي حقـوق پوهـان پـه دې بـاور دي، چـې د هـر تقنینـي سـند بایـد کـم تـر کمـه پـه هـرو درې کلونـو کـې بیـا کتنـه وشـي، تـر څـو پـه تقنینـي سـند کې شـته خـلاوې او پیچلتیـا لـه منځـه لاړ شـي.

پـه دې سـره د قوانینـو د الغـاء بحـث مطـرح کېـږي، چـې حقـوق پوهـان د قوانینـو الغـاء پـه دوه ډولـه ویشـي. یـو تـه

يې ضمني الغاء وايي او بل ته صريحي. ضمني الغاء کې کله چې نوی قانون او تقنيني سند نافذېږي، نو د پخواني تقنيني سند ټول احکام به سر په خوده ملغا ګڼل کېږي او صريحي الغاء کې بيا نوی قانون په صريح او څرګند ډول بيانوي، چې د نوي قانون په انفاذ سره زوړ قانون لغوه کېږي. (دوکتور عبدالرزاق السنهوري او الدکتور احمد حشمت: اصول القانون او المدخل لدراسة القانون، ص۲۵۱ ـ ۲۵۵)

دويم مطلب - د تقنيني سندونو د بيا کتنې ډولونه:

د يوه تقنيني سند په بيا کتنه کې به هره ماده او هره کلمه په جلا جلا ډول تر غور لاندې نيول کېږي. دا غور به له دوه اړخونو څخه وي؛ يو د حکم له اړخه او بل د الفاظو يا صيغې له اړخه.

لومړی پراګراف - د تقنيني سندونو بيا کتنه د حکم له اړخه:

د حکم له اړخه به تقنيني سند کتل کېږي، چې دا ماده څه حکم کوي؟ ايا دا حکم له اوسنۍ سياسي، اقتصادي، ټولنيزې او ديني اوضاع سره برابر دی کنه او د اوسنيو غوښتنو لپاره په سم ډول ځواب ويلی شي کنه؟ نو له دې اړخه به لاندې ډول بدلونونه شونې وي:

الف: د تقنيني اسنادو ځيني مواد د وضع په وخت کې اړتيا وي، خو د وخت په تيريدو سره يې اهميت له مېنځه ځي او هيڅ د دې اړتيا نه ليدل کېږي، چې نور دې دغه ماده او حکم په تقنيني سند کې ځای ولري. په دغه وخت کې د مادې حذف اړين وي.

ب: کله داسې هم کيدلی شي، چې د هېواد د سياسي، اقتصادي او ټولنيزو حالاتو په بدلون سره د حکم بدلون اړين وي؛ په داسې ډول، چې د وړاندې حکم پرځای نوی حکم رامېنځ ته شي. شونې ده، چې لومړنی حکم له اسلامي فقهې سره ټکر ولري، خو د مقنن پام ورته نه وي ، يا د سياسي حالاتو څخه په تاثر يې وضع کړی وي، نو دغه وخت بيا د حکم تعديل ته اړتيا ليدل کېږي.

ج: کله کله د وخت د اړتيا په صورت

کې، چې نوې موضوع په نوي شکل سره رامینځ ته شي، نو په همدې بنسټ اړتیا وي، چې په تقنیني سند کې نوی حکم ایزاد کړو.

دویم پراګراف - د تقنیني سند بیا کتنه د کلمې او صیغې له اړخه:

دویم د تقنیني اسنادو بیا کتنه د صیغې له اړخه هم باید په پام کې ونیول شي:

الف: مغلق، پیچیده، د څو معناو لرونکي او د اصلي معنا نه ورکوونکي الفاظ باید تعدیل شي او پر ځای یې داسې کلیمې راوړل شي، چې یوه، مشخصه او څرګنده معنا ولري.

ب: همدارنګه هغه کلمات، چې په ماده کې د معنا له اړخه هیڅ اړین نه وي، یا یې موجودیت او نیشت کوم اغیز نلري، یا یې موجودیت د حکم حقیقت بدلوي، نو دغسې حالت کې باید یاده کلمه حذف شي.

ج: کله اړتیا وي، چې د مفهوم د نبه څرګندیدو لپاره یوه یا څو کلمې اضافه شي، نو دغه وخت کې بیا ایزاد ته اړتیا لیدل کېږي.

پایله:

په لنډ ډول ویلی شو، چې د تقنیني اسنادو بیا کتنه د قوانینو د حکم له اړخه د وخت د اړتیا موافق تعدیل، ایزاد او حذف رامنځ ته کوي او د کلیمې له اړخه هم د کلیماتو تعدیل، ایزاد او حذف رامنځته کوي، چې په دې سره زوړ تقنیني سند لغوه او نوی تقنیني سند نافذېږي.

سرچینې:

۱. د تقنیني سندونو د پراونو د تېرولو قانون، عدلیې وزارت رسمي جریده، خپرېدو نیټه: (۱۳۹۷) پرله پسې ګڼه (۱۳۱۳).

۲. دوکتورعبدالرزاق السنهوري او الدکتوراحمد حشمت: اصول القانون او المدخل لدراسة القانون، مطبعة لجنة التاليف والترجمة والنشر، قاهره، چاپ کال: ۱۹۵۰ز.

۳.دوکتور خضراوي الهادي: ضرورة تعديل الدستور كأساس الاصلاح النظام، كلية الحقوق والعلوم السياسية، بدون نشر.



به همکاری جمعیت هلال احمر افغانی

۹۰ طفل مریض

برای تداوی به کشور جرمنی اعزام گردید

به اساس اطلاعیه جمعیت هلال احمر افغانی از تاریخ ۲۱-۳۰ دلو سال ۱۴۰۰ شمسی از جمله ۲۸۰۰ طفل مریض که از سراسر کشور جهت معاینه دکتوران دهکده صلح آلمان به دفتر این نهاد مراجعه کرده بودند، تعداد ۹۰ طفل مصاب به مریضی استخوان شکن و سوختگی شدید بعد از معاینه و تشخیص برای تداوی در کشور جرمنی انتخاب گردیدند که بعد از اخذ ویزه کشور جرمنی و طی مراحل قانونی به تاریخ چهارم حمل سال ۱۴۰۰ شمسی به کشور جرمنی اعزام می گردند و قرار است تعداد ۳۰ طفل مریض که قبلاً جهت تداوی به آن کشور فرستاده شده بودند و اکنون صحت یاب گردیده اند، به کشور باز گردند.

دهکده صلح آلمان یک سازمان خیریه غیر دولتی، مستقل و بشردوست مقیم کشور جرمنی است که اطفال مصاب به مریضی استخوان شکن و سوختگی شدید از چند کشور فقیر و جنگ زده جهان را با تقبل هزینه طور رایگان تداوی می نماید.

مقر این دهکده در شهر ابر هوزن جرمنی قرار دارد و از طرف مردم و حکومت آلمان (جرمنی) و برخی سفارت خانه های کشورهای مقیم آن کشور، حمایت مالی و تخنیکی می شود .

این دهکده در سال ۱۳۶۸ شمسی قرار دادی را با جمعیت هلال احمر افغانی به امضا رسانیده است که برویت آن اطفال مریض افغانی را که به امراض فوق مصاب باشند، عمر شان از یک تا یازده سال باشد و از جانبی هم معالجه آن ها در داخل کشور ممکن نباشد، به کشور جرمنی انتقال و در آنجا تحت درمان قرار می دهد.

داکتران متخصص این دهکده سال دو مراتبه به افغانستان سفر می کنند، واطفال مریضی را که به اساس اطلاعیه جمعیت هلال احمر افغانی از طریق رسانه های خبری به تاریخ و وقت معینه به دفتر این نهاد خیریه مراجعه می کنند معاینه و جهت معالجه تثبیت و انتخاب می نمایند.

به قول مسؤولین دهکده صلح آلمان، از زمان عقد پروتوکول و آغاز فعالیت دهکده صلح آلمان در افغانستان تا اکنون بیش از (۶۰۰۰) طفل مریض افغانی در ۸۶ نوبت در دهکده صلح کشور جرمنی، تحت درمان قرار گرفته اند که بعد از تداوی صحتمند به کشور شان بازگشته اند. دکتوران موظف دهکده صلح آلمان، نهایت سعی و تلاش می ورزند که اطفال مریض در جریان تداوی تلف نشوند و هرچه زودتر و بهتر به آغوش والدین شان بر گردند.

البته مصارف تداوی، رفت و برگشت، اعاشه و اباته اطفال بدوش دهکده صلح آلمان بوده که هزینه هر طفل از پانزده هزار تا بیست هزار یورو بالغ می شود. این اطفال از شش ماه تا یک سال در آلمان اقامت می کنند که در ضمن تداوی از طرف دهکده صلح المان برای دختران تسهیلات آموزش خیاطی و پسران آموزش ریاضی و فلزکاری نیز فراهم می شود.

گـزارش یک سـاله خدمات جمعیـت هلال احمـر افغانی







جمعیـت هـلال احمـر افغانـی یـک نهـاد خیریـه ملی، بیطـرف و مستقل در سطح کشـور است کـه بـا عرضـه کمـک هـا و خدمـات بشردوسـتانه بـدون تبعیـض رنـج و الام قربانیـان حـوادث طبیعـی و غیـر طبیعـی و سـائر نیازمنـدان و بیمـاران را کاهـش مـی دهـد و از زنـده گـی و کرامـت انسـانی آنهـا حمایـت مـی کنـد.

ایـن نهـاد در سـال مالـی ۲۰۲۱م – ۱۴۰۰ شمسـی کمـک هـا و خدمـات را بـه شـرح ذیـل در سراسـر کشـور بـه مـردم آسـیب پذیـر و نیازمنـد انجـام داده اسـت:

• اداره حوادث:

اداره حـوادث جمعیـت هـلال احمر افغانـی در چهار بخـش ذیـل خدمـات و کمـک هـای بشردوسـتانه را بـرای قربانیـان حـوادث و سـائر نیازمنـدان عرضـه مـی دارد:

۱- مرکـز امـداد عاجـل:: ایـن بخـش در سـال مالـی ۱۴۰۰ شمسـی، بـرای ۳۰۵۲۴۴ نفـر مـواد غذایـی و غیـر غذایـی در مرکـز و ولایـت هـای کشـور بعـد از پروسـه سـروی و تثبیـت مسـتحقین توزیـع کـرده اسـت..

همچنـان بـرای ۴۹۹۷۱ نفـر و ۴۷۶۰ خانـواده مسـتحق پـول نقـد مسـاعدت نمـوده اسـت.

۲- ردیابـی: ۲۴۴ پیغـام ملکـی و محبوسـین بـه مراجـع ذیربـط رسـانیده شـده اسـت و ۱۶۶ قضایـای ملکـی و محبوسـین را پیگیـری کـرده اسـت.

۳- ۲۰۲۴ جسـد میادیـن جنـگ را بـه آدرس هـای مشـخص انتقـال کـرده اسـت.

۴- کاهـش خطـرات حـوادث: از طریـق برنامـه های تبلیغاتـی در سـاحات مقـرون بـه حـوادث بـرای مـردم آسـیب پذیـر در مـورد اقدامـات پیشـگیرانه جهـت کاهـش خطـرات احتمالـی حـوادث آگاهـی مـی دهـد.

• عرضه خدمات صحی:

از طریـق مراکـز صحـی ثابـت و تیـم هـای سـیارصحی (یـک بـاب شـفاخانه در مرکـز و یـک بـاب شـفاخانه ناحیـوی ، ۴۶ کلنیـک ثابـت، ۲۲ کلنیـک عاجـل فرعـی، یـک کلنیـک صحـی جامـع، ۳۹ تیـم سـیار صحـی عاجـل و ۳۱ تیـم سـیار پولیـو یـا معافیـت، در ولایـات) بـرای ۱۷۲۸۷۲۸ نفـر مریضـان و مصابیـن کویـد۱۹در مرکـز و ولایـت هـای کشـور خدمـات صحـی و تعلیمـات صحـی و ادویـه رایـگان عرضـه و توزیـع گردیـده اسـت. بـه همیـن گونـه بـرای ۱۵۷۴۷ خانـم قبـل و بعـد از

ولادت مراقبت های صحی و تعلیمات صحی صورت گرفته است۵۹۵ کودک مصاب به بیماری سوراخ قلب و دوتن بیمار صعب العلاج به شفاخانه های داخل و خارج کشور جهت تداوی فرستاده شده است. ۱۲۹۶ کیت صحی و ۱۰۰۰ پشه خانه برای خانواده های نیازمند توزیع گردیده است.

• مرستون ها:

در مرستون های کابل، کندهار، ننگرهار، هرات و بلخ برای ۸۰۰ نفر مشمول شامل خانواده های بی سرپرست و گودکان یتیم و جمعی بیماران روانی، امکانات معیشتی و آموزشی فراهم گردیده است. همچنان برای ۲۱ نفر متعلمین و محصلین بی بضاعت بیرونی و یک نفر مشمول داخل مرستون بدیل اعاشه ماهوار مبلغ ۴۰۰۰ افغانی مساعدت صورت گرفته است.

• جوانان و رضاکاران:

جمعیت هلال احمر افغانی در سطح کشور بیش از سی و یک هزار رضاکار آموزش دیده دارد، این رضاکاران یک نیروی بشری فعال جمعیت ملی محسوب می شوند که ضمن تسهیل دسترسی جمعیت ملی به ساحات متأثر از حوادث، داوطلبانه بدون دریافت مزد و امتیاز در عرضه خدمات بشردو ستانه این نهاد به متأثرین حوادث و سائر نیازمندان دوشادوش کارمندان این نهاد نقش فعال و بارز دارند. فعالیت های اداره رضاکاران جمعیت ملی در بخش های ذیل خلاصه می گردد.

۱- رضاکاران کمک های اولیه صحی: رضاکاران آموزش دیده کمک های اولیه صحی در سطح قرأ و قصبات کشورکمک های اولیه صحی و تعلیمات صحی را به بیماران ، مجروحان و سائر مردم عرضه می نمایند.

۲- رضاکاران پاسخدهی حوادث: رضاکاران جمعیت ملی در صورت وقوع حوادث طبیعی و غیر طبیعی در عملیات امداد رسانی چون جستجو ونجات، سروی تثبیت مستحقین و توزیع مواد امدادی به آسیب دیده گان و سائر نیازمندان در کنار کارمندان این نهاد نقش فعال و بارز گرفته اند.

۳- آموزش: برای ۲۴۰ تن رضاکار جدید الشمول در ولایت های هرات، نیمروز، بامیان، پروان، کاپیسا و خوست، برای ۶۸۰ رضاکار در ۳۴ ولایت کورس های آموزش کمک های اولیه صحی و برای ۱۲۶۰ رضاکار کورس وقایوی کوید ۱۹ را دایر کرده است تا با استفاده از این آموزش ها، خدمات و تعلیمات صحی را به هموطنان عرضه نمایند. همچنان برای ۱۲۰۰۰ هزار جوانان و رضاکاران بی بضاعت که توان پرداخت فیس در کورس های شخصی را ندارند، زمینه آموزش مضامین دینی و مهارت های کمپیوتر، انگلیسی و حطاطی را در ۲۹ کلوپ فعال جوانان و رضاکاران در سطح ولایات دایر کرده است و سه کلوب آموزشی جهت آموزش متعلمین بی بضاعت در ولایت های لوگر، بلخ و فاریاب را نیز تجهیز کرده است.

۴ سیستم عضویت: جمعیت ملی در سطح کشور ۱۴۴۸۸ نفر اعم از ذکور و اناث عضو دارد و در جریان سال ۱۴۰۰ مالی ۱۴۷ نفر به صفت اعضأی جدید جلب و جذب گردیده است. لازم به تذکر است که در ده سال گذشته مبلغ ۵۱۷۴۰۱۰ افغانی بابت حق الشمول و حق العضویت در ۳۴ نماینده گی ولایتی جمع آوری گردیده است.

۵- بخش ورزش: در ترکیب تیم های مختلف ورزشی رضاکاران خوب درخشیده اند، از طریق ورزش جمعیت ملی را در جامعه معرفی و افتخارات زیادی را به کشور و جمعیت ملی کسب کرده اند.



په اسلام کې مرسته او ښیګڼه

عبدالباسط حماس

له ادمه تر دې دمه چې بشر په ژوند پېل کړی؛ له لومړی ورځې یې یو او بل ته اړتیا درلودله . په همدې اصل یې ژوند کاوه او همدې اړتیا ته په کتو بشري ټولنې او د دوی ټولنیز ژوند پېل شو . کله چې په دې نړۍ کې انسانانو په ژوند پېل وکړ او ادم علیه السلام د لومړي انسان په توګه دې نړۍ ته را ولېږل شو ، نو په نړۍ کې یې له نورو ټولو اړتیاو لومړیتوب بېرته له بې بې حوا سره یوځای کیدلو ته ورکړ او الله تعالی ته یې دا دعا وکړه، چې له بې بې حوا سره بېرته یو ځای شي تر څو د ژوند لپاره یو مرستندوی ملګری وموميي.

که دې موضوع ته لږ په ژور نظر وګورو، نو انسانان د ژوند لپاره په دې نړۍ کې د ژوند ټولو بې شمېره اړتیاو لکه خوراک، څښاک، د اوسیدلو لپاره ځای، لباس او داسې نورو سربېره په فطري ډول د یو او بل ته ډېره اړتیا لري، تر څو د یو او بل نېمګړتیاوې پوره او متقابلو مرستو له لارې د ژوند چارې پر مخ بوځي. له یو بل سره د مرستې او ښېګڼې اصل یواځې د یو فرد او یا محدودو اشخاصو سربېره د کورنیو، کلیو، ښارونو، ټولنو او ملتونو تر منځ صدق کوي. دا په دې مانا چې هر وګړی، قوم، ټولنه او ملت د ژوند په اوږدو کې د یو او بل مرستې ته اړتیا لري او یو د بل نیمګړتیاوې پوره کوي . همدغه د ټولنیز ژوند او متقابلې همکارۍ ایډیالوژي د انسانانو په تاریخ کې له ساده فردي ژوند څخه نیولې د کورنیو، ټولنو ، ملتونو حتی لویو لویو امپراتوریو د رامنځ کیدلو سبب ورګرځېدله، چې د زرګونو کلونو له تېرولو وروسته یې ننني بڼه غوره کړې ده.

کله چې بشریت د ژوندانه په ګرداب کې ورک شو او خپل اصلي مرام ته یې شا کړه؛ نو الله تعالی د دوی د لارښوونې لپاره انبیاء راولېږل . ټولو نبیانو له الهي ارشاداتو سره سم خپل پیروان له نورو سره مرستې او ښېګڼې ته رابللي. ترڅو د انساني فطرت له مخې منسجم شي.کله چې موسی علیه السلام ته امر وشو، چې فرعون ته دعوت ورکړي، نو ده له الله تعالی څخه دا غوښتنه وکړه، چې ای ربه! د دې لپاره چې زما د

دعوت لپاره یو مرستندوی او ملاتړ کوونکی پیدا شي، نو زما ورور هارون په دعوت کې زما وزیر وټاکه (طه ۲۹) . له دې دا مفهوم اخیستل کېږي، چې هر څوک د یو کار تر سره کولو لپاره یو چا ته حتمي اړتیا لري.

له هغه راهیسې، چې د اسماني دینونو پیروانو له خپل مسیر انحراف وکړ، نو په نړۍ کې داسې مستبد نظامونه او حکمرانان را منځ ته شول، چې په ټولو انساني ټولنو کې تبعیض او د محکومې طبقې ځپل خپل اوج ته رسیدلي وو؛ د نړۍ نظم او نظام دې حد ته ظالم شوی و، چې په یوه عادي تېروتنه به پوره قامونه او ملتونه ایل کیدل او د عدالت او ټولنیز ژوند یواځې نوم پاتې و. تر دې چې د عربو په ټاپو وزمه کې د اسلام مبارک دین را څرګند شو.

اسلام د نړۍ د ټولو استبدادي امپراتوریو او حاکمانو له رایج سیستم څخه عکس خپلو پیروانو ته د سولې، مرستې، احسان، نیکو اخلاقو، نیکې رویې او له خلکو سره د ښېګڼې لارښوونې وکړې، ټول هغه تبعیضونه یې له منځه یوړل، چې د حاکمې او محکومې طبقې خلکو تر منځ یې نه وصلیدونکی واټن رامنځ ته کړی و. د اسلام د همدغو لارښوونو په وسیله د لومړیو پېړیو مسلمانانو (اصحابو او تابعینو) وکولای شول د پېړیو راهیسې لویې او ځواکمنې واکمنې امپراتورۍ په ګونډو کړي او له بشریت سره د نیک چلند، مرستې، ښېګڼې او حسنه اخلاقو په واسطه په ډېره کمه موده او نشتو امکاناتو نیمه نړۍ د اسلام تر اقتدار او عدالت لاندې راولي.

د دې لپاره چې په موضوع کې تم شو، نو د اسلام له نظره د مرستې او ښېګڼې په هکله یو څو الهي ارشاداتو ته اشاره کوو:

قرانکریم د مایدې سورې په دویم ایت کې وایي:

وَتَعَاوَنُوا عَلَى الْبِرِّ وَالتَّقْوَى وَلَا تَعَاوَنُوا عَلَى الْإِثْمِ وَالْعُدْوَانِ

مایده (۲)

ژباړه: او تاسو په نیکۍ او پرهیزګاری کې له یو بل سره مرسته (کمک) وکړئ.

امام قرطبي رحمه الله د دې ایت په تفسیر کې لیکلي "هو امر لجميع الخلق على البر والتقوى ، اى ليعن بعظكم بعظا " ژباړه یې په دې ډول ده، چې دا د ټولو مخلوقاتو لپاره یو امر دی، چې له یو او بل سره مرسته وکړي، خو دلته الله تعالی د مرستو لپاره یو شرط ایښی؛ هغه دا چې هره مرسته به د شریعت له اصولو سره مطابق او په نیکو کارونو کې کېږي.

له دې پرته اسلام د بشریت د مرستې او د دوی د اړتیا د پوره کولو لپاره خپل پیروان د زکات او صدقې په ورکولو مکلف کړي دي او د هر شتمن مسلمان په مال کې یې د اړمنو لپاره یوه برخه ټاکلې. د صدقې ورکوونکي لپاره یې تر اوه سوه چنده او له دې څخه هم زیات ثوابونه ټاکلي ترڅو له دې لارې د ټولنې هر وګړی د ژوند د اړتیاو د پوره کولو توان ولري او هېڅوک اړ پاتې نه شي.

رسول الله صلی الله علیه وسلم د مرستې او ښېګڼې په هکله خپل امت ته درس ورکوي، چې"یو مسلمان د بل مسلمان ورور دی؛ ظلم

پـرې نـه کـوي ، يواځـې يـې نـه پرېـږدي او بـل چاتـه يـې نـه تسـليموي " د دې پـه دوام کـې وايـي: " کـه يـو مسـلمان لـه بـل مسـلمان سـره پـه يـو حاجـت کـې مرسـته وکـړي، نـو الله تعالـى بـه د ده پـه حاجـت کـې ورسـره مرسـته وکـړي، چا چې د يـو مسـلمان سـتونزه پـه دنيـا کـې حـل کـړه، الله تعالـى بـه يـې د اخـرت لـه سـختيو ژغـوري او چـا چـې د يـو مسـلمان پـه عيـب پـرده واچولـه، نـو الله تعالـى بـه د قيامـت پـه سـخته ورځ د ده پـه عيبونـو پـرده اچـوي". (مسـندامام احمـد بـن حنبـل لـه ابـن عمـر رضـى الله عنـه څخـه ۵۴۹۴)

پـه يـو بـل حديـث کـې وايـي" الله تعالـى تـر هغـې پـورې لـه خپـل بنـده سـره پـه مرسـته کـې دی ، ترڅـو هغـه لـه خپـل ورور سـره پـه مرسـته او ښـېګڼه کـې واقـع وي".

لـه پورتنيـو نصوصـو دا معلومېـږي، چـې مرسـته او ښـېګڼه پـه اسـلام کـې څومـره ارزښـت لـري او الله تعالـى د مرسـته کوونکـو لپـاره څومـره لـوی بديـل ټاکلـی. امـام طبـري رحمـه الله د يـو حديـث پـه شـرح کـې ليکـي، چـې هـر چـا چـې پـه يـو نېـک کار کـې مرسـته وکـړه، نـو د ده او عامـل اجـر د الله پـه وړانـدې برابـر دی (مـن جهـز غازيـآ فقـد غـزا).

کـه د اسـلام لـه صـدر څخـه تـر نـن ورځـې پـورې د اسـلام يـو نيـم زر کلـن تاريـخ تـه سـر ورښـکاره کـړو، نـو د ايثـار، تعـاون او ښـېګڼې داسـې رښـتيني بېلګـې بـه وګـورو، چـې د بشـر پـه ټـول تاريـخ کـې بـه يـې سـاری ونـه ليـدل شـي. د رسـول الله صلـى الله عليـه وسـلم مبـارک سـيرت او د صحابـه و چلنـد لـه نړيوالـو سـره د مرسـتو او ښـېګڼو يـوه الګويـې دوره وه؛ د نـړۍ پـه ګـوټ، ګـوټ کـې انسـانان لـه ظلـم، شـر، تبعيـض او سـتم څخـه وژغـورل شـول او د داسـې چـا تـر حاکميـت لانـدې يـې ژونـد تـه ادامـه ورکـړه، چـې د واکمنـو حالـت بـه يـې لـه رعيـت څخـه بهتـر نـه و. د صديـق او فـاروق عدالـت تـه تـر ننـه هـم ټـول بشـريت ګوتـه پـه غـاښ دی، د ذالنوريـن (عثمـان رضـى الله عنـه) د مرسـتې او ښـېګڼې بېلګـې تـر ننـه د انسـانيت پـه غـوږو کـې انـګازې کوي، د سـخاوت د فـوق العـاده خاصيـت لـه مخـې يـې لـه نـوم سـره يوځـای د غنـي نـوم هـم اخيسـتل کېـږي. لـه يهـودي څخـه د څښـلو د اوبـو څـاه اخيسـتل او خلکـو تـه وقـف کـول يـې تـرې انسـانيت تـه د اوبـو رسـولو يـو ايډيـال جـوړ کـړی دی. د علـي رضـى الله عنـه پـه زمانـه کـې د مرسـتو رسـولو پروګـرام ټولـو مفتوحـه سـيمو تـه پـه خپـل وخت رسـيد او د امويانـو، عباسـيانو او عثمانيانـو دورې د اسـلامي تاريـخ د عـروج او دبدبـې نمونـه يـې دورې وې، چـې د ټـول بشـر پـه تاريـخ کـې بـه تکـرار نـه شـي. د عمـر بـن عبدالعزيـز رحمـه الله پـه خلافـت کـې بـه خلکـو زکات او صدقـات پـه کليـو او ښـارونو کـې ګرځـول، خـو مسـتحقين بـه يـې نـه پيـدا کيـدل. دا پـه دې مانـا چـې د وخـت حاکمـان د خپـل اصالـت عمـق تـه ننوتـي وو. د خيـر ښـېګڼې دومـره پروګرامونـه يـې پـه لاره اچولـي و، چـې پـه ټولنـه کـې بـه غريـب او بـې چـاره نـه پيـدا کيـدل. پـه يـو نيـم زر کلـن تاريـخ کـې داسـې بېلګـې شـته، چـې پـه ننـنی مـاډرن او پرمختللـې نـړۍ کـې يـې سـاری نـه ليـدل کېـږي او د تاريـخ پـه پاڼـو کـې ثبـت دي.

حقـوق بشردوسـتانه بیـن المللـی (حقـوق مخاصمات مسـلحانه)

حقـوق بشردوسـتانه مجموعـه ای از قواعـد بیـن المللی قراردادی یـا عرفی است کـه مشـخصاً ناظر بـه مشـکلات بشردوسـتانه ای است کـه از مخاصمات مسـلحانه بیـن المللـی یـا غیربیـن المللـی ناشـی شـده است. ایـن قواعـد بـه دلایـل بشردوسـتانه حق طرفیـن مخاصمـه را در انتخـاب و اسـتفاده از ابـزار هـا و شـیوه هـای جنگـی محـدود مـی کنـد و اشـخاص و اشـیایی را کـه از درگیـری هـا متأثـر شـده یـا خواهنـد شـد، مـورد حمایـت قـرار مـی دهـد. حقـوق بشردوسـتانه «حقـوق مخاصمـات مسـلحانه» نیـز نامیـده مـی شـود

تفـاوت میـان حقـوق بشـر دوسـتانه و حقـوق بشر :

حقـوق بشردوسـتانه و حقـوق بشـر هـر دو در صـدد حمایـت از فـرد هسـتند. حقـوق بشردوسـتانه در موقعیـت درگیـری هـای مسـلحانه اعمـال مـی شـود، در حالـی کـه حقـوق بشـر در همـه موقعیـت هـا اعـم از جنـگ و صلـح از فـرد حمایـت مـی کنـد

هـدف حقـوق بشردوسـتانه حمایـت از قربانیـان جنـگ بـا تـلاش بـرای محـدود کـردن رنـج هـای ناشـی از جنـگ اسـت، امـا حقـوق بشـر بـه دنبـال حمایـت از فـرد و پـس از آن پیشـرفت او اسـت. حقـوق بشردوسـتانه در درجـه اول مربـوط بـه رفتـار بـا اشـخاصی اسـت کـه بـه دسـت دشـمن افتـاده انـد و روشـی کـه جنـگ بایـد بـر اسـاس آن هدایـت شـود. هـدف حقـوق بشـر تنظیـم روش هایـی بـه منظـور هدایـت عملیـات نظامـی نیسـت، بلکـه هـدف آن محـدود کـردن قـدرت دولـت بـر اشـخاص و جلوگیـری از رفتـار مسـتبدانه اسـت

حقوق بشردوستانه چگونه شکل گرفت؟

حقـوق بشردوسـتانه بیـن المللـی در واقـع در تمامـی جوامـع، قواعـدی هـر چنـد ابتدایـی وجـود داشـته کـه بـر رفتـار طرفیـن در جنـگ بـه نحـوی حاکـم بـوده اسـت. یـک مثـال قدیمـی در ایـن خصـوص، قاعـده ممنوعیـت مسـموم کـردن چـاه هـا اسـت. یـک قاعـده دیگـر، جداکـردن زنـان و کـودکان از طرفیـن درگیـر اسـت. بنابـر ایـن مـی تـوان چنیـن نتیجـه گیـری کـرد کـه تمـام قواعـد جنـگ و سـایر مقـررات حقوقـی کـه از زمـان اولیـن جنـگ هـا بـه وجـود آمـده انـد، در حقیقـت همـان حقـوق جنـگ را تشـکیل مـی داده انـد؛ امـا در آن زمـان تحـت عنـوان (حقـوق جنـگ) شـناخته نمـی شـدند.

حقـوق جنـگ بـه تدریـج در طـول تاریـخ توسـعه پیـدا کـرد و بـا تمـدن هـای مختلـف منطبـق شـد و همـراه بـا پیشـرفت قواعـد اخلاقـی و حقوقـی و همچنیـن توسـعه تجهیـزات نظامـی شـکل گرفـت. افـراد خیـر اندیـش در قـرن نـوزده، شـرایط لازم را بـرای بـه وجـود آمـدن قواعـد بشردوسـتانه بـه صـورت بیـن المللـی، دائمـی، مـدون، قابـل اجـرا در سـطح جهـان و شـناخته شـده بـرای همـگان فراهـم کردنـد کـه بـه طـور شـگفت انگیـزی موجـب توسـعه حقـوق بشردوسـتانه بیـن المللـی گردیـد .

قواعـد اساسـی حقـوق بیـن المللـی بشردوسـتانه کـدام اسـت؟

۱- بایـد بـه حـق و تمامیـت جسـمی و روحـی اشـخاصی کـه از جریـان مخاصمـه خـارج هسـتند، احتـرام گـذارد .

۲- کشـتن یـا آسـیب رسـاندن بـه دشـمنی کـه تسـلیم شـده یـا از جریـان مخاصمـه خـارج شـده، ممنـوع اسـت .

۳- مجروحیـن و بیمـاران بایـد جمـع آوری شـده و مـورد مراقبـت قـرار گیرنـد .

۴- بایـد بـه حـق حیـات، حیثیـت، حقـوق شـخصی و اعتقـادات جنگجویـان دسـتگیر شـده و غیرنظامیـان تحـت اختیـار هـر یـک از طرفیـن مخاصمـه، احتـرام گذاشـته شـود

۵- همه افراد باید از تضمینات قضایی برخوردار باشند.

۶- طرفین یک مخاصمه و اعضای نیرو های مسلح آنان، در انتخاب شیوه ها و ابزار های جنگی اختیار نامحدود ندارند .

۷- طرف های یک مخاصمه باید میان اموال و اشخاص نظامی و غیر نظامی تفاوت قایل شوند.

۸- هر گونه عملیات جنگی باید نسبت به اهداف مورد تهاجم قوای متخاصم، ضرورت و تناسب داشته باشند .

۹- حمله به تأسیسات مولد نیروی خطرناک از قبیل بند ها و نیروگاه ها ممنوع است .

۱۰- کارمندان صحی و مذهبی، نیروهای امدادی، وسایل نقلیه صحی، شفاخانه ها و تأسیسات امدادی صحی مصونیت دارند و نباید مورد حمله واقع شوند .

حقوق بشردوستانه در چه موقعیت هایی قابل اجرا است؟

حقوق بشردوستانه بین المللی در دو موقعیت قابل اجرا است. به همین دلیل گفته می شود که این حقوق دو سیستم حمایتی را ارائه می دهد:

الف) مخاصمات مسلحانه بین المللی :

در چنین موقعیتی کنوانسیون های ژنو و پروتوکول اول الحاقی، اعمال می شوند. حقوق بشردوستانه اصولاً برای طرفین مخاصمه وضع شده است و هر شخص یا گروهی از اشخاص که در مخاصمه شرکت نکرده یا شرکت در مخاصمه را ترک کرده اند، حمایت می کند. این اشخاص عبارتند از :

- پرسونل نظامی مجروح یا بیمار در جنگ های زمینی و بخش خدمات صحی نیروهای مسلح.
- پرسونل نظامی مجروح، بیمار یا کشتی شکستگان در جنگ های دریایی و بخش خدمات صحی نیرو های مسلح.
- اسرای جنگی.

جمعیت های غیرنظامی عبارت اند از :

- شهروندان خارجی در سرزمین های طرفین مخاصمه از قبیل پناهندگان.
- غیرنظامیان در سرزمین های اشغالی.
- بازداشت شدگان نظامی و غیرنظامی.
- پرسونل صحی و مذهبی یا واحد های دفاع کشوری.

ب) مخاصمات مسلحانه غیر بین المللی :

در چنین موقعیت های حقوق بشردوستانه به نیرو های مسلح اعم از منظم و یا غیرمنظم که در مخاصمه (جنگ) شرکت کرده اند، اختصاص می یابد و از هر شخص یا گروهی از اشخاص که در مخاصمه شرکت نکرده اند یا مخاصمه را ترک کرده اند از قبیل افراد ذیل حمایت می کند :

- رزمندگان مجروح یا بیمار.
- اشخاصی که در نتیجه جنگ از آزادی خود محروم شده اند .
- جمعیت غیرنظامی.
- پرسونل صحی و مذهبی.

جنایت جنگی چیست؟

تخلف از حقوق جنگ را جنایت جنگی می نامند. معنایی که عموماً از جنایت جنگی درک می شود، موارد نقض فاحش حقوق بشردوستانه بین المللی یا با استفاده از واژه سنتی، موارد نقض فاحش قوانین و عرف های جنگی، صرف نظر از طبیعت جنگ است. مواردی که به عنوان جنایت جنگی تلقی شده اند، حملات انجام شده بر علیه کسانی است که مشارکت فعالی در جنگ نداشته اند یا به مشارکت خود پایان داده اند (مانند سربازان مجروح یا بیمار، اسرای جنگی، غیرنظامیان و غیره)

سایر مواردی که جنایت جنگی محسوب می

شـوند عبـارت انـد از :

ـ قتل عمدی.

ـ شکنجه و رفتار غیرانسانی.

ـ عمـداً موجبـات رنـج شـدید دیگـران را فراهـم کـردن.

ـ صدمه شدید به جسم یا سلامتی.

ـ حمله به جمعیت غیر نظامی.

ـ اخراج یا انتقال غیرقانونی گروه های غیرنظامی.

ـ استفاده از سلاح ها یا روش های ممنوع جنگی (سلاح های شیمیایی، باکتریولوژیک و آتشزا)

ـ اسـتفاده خائنانـه از علائـم و دیگـر نشـانه هـای حفاظتـی.

ـ غارت اموال عمومی یا خصوصی.

در زمـان درگیـری هـای مسلحانه، چـه حمایتی بـرای افـراد در نظـر گرفتـه شـده اسـت؟

در چهـار معاهـده ژنیـو رعایـت و حفـظ حقـوق مجروحـان، بیمـاران و غـرق شـدگان نیـروی دریایـی و نیـز تمـام زندانیـان جنگـی بـی هیـچ تمایـزی پیـش بینـی شـده و در نتیجـه حـق حمایـت برابـر بـرای تمـام قربانیـان جنـگ تضمیـن شـده اسـت. معاهـده چهـارم بـه حفـظ حقـوق اشـخاص غیرنظامـی در دوران جنـگ مـی پـردازد .

پروتوکـول هـای الحاقـی ایـن حمایـت را بـه تمـام اشـخاص آسـیب دیـده از درگیـری هـای مسـلحانه گسـترش مـی دهنـد و هـر گونـه حملـه رزمنـدگان و طـرف هـای درگیـر را اعـم از اینکـه درگیـری بیـن المللـی باشـد یـا داخلـی، بـه افـراد و اهـداف غیرنظامـی ممنـوع مـی کنـد .

بـرای برخـورد بـا تجـاوزات آشـکار بـه حقـوق بشردوسـتانه چـه اقداماتـی پیـش بینـی شـده اسـت؟

دولـت هـا در زمـان عضویـت در کنوانسـیون هـای ژنیـو متعهـد مـی گردنـد کـه بـرای مجـازات اشـخاص متهـم بـه نقـض فاحـش حقـوق بشردوسـتانه، ترتیبـات قانونـی لازم را فراهـم آورنـد. دولـت هـا همچنیـن متعهـد شـده انـد کـه هـر شـخص را کـه بـه ارتـکاب یکـی از مـوارد نقـض فاحـش کنوانسـیون هـا متهـم اسـت، در محاکـم خـود تعقیـب کننـد یـا او را بـرای محاکمـه بـه کشـور دیگـر واگـذار نماینـد. بـه تعبیـر دیگـر مرتکبیـن نقـض فاحـش یعنـی جنایـت کاران جنگـی، بایـد همیشـه و در همـه جـا مـورد تعقیـب قـرار گیرنـد و دولـت هـا مسـؤولیت دارنـد کـه ایـن امـر را تضمیـن نماینـد

در واقـع قوانیـن جزایـی کشـورها تنهـا جرایـم ارتکابـی در سـرزمین آن دولـت یـا بـه وسـیله اتبـاع آن دولـت، اعمـال مـی شـود. حقـوق بشـر دوسـتانه بـا ملـزم کـردن دولـت هـا بـه یافتـن و مجـازات هـر شـخصی کـه مرتکـب یکـی از مـوارد نقـض فاحـش ایـن حقـوق شـده اسـت، صـرف نظـر از تابعیـت وی و یـا مکانـی کـه جـرم در آن واقـع شـده اسـت، از ایـن حـد فراتـر مـی رود .

چنیـن تعقیـب هایـی را ممکـن اسـت محاکـم ملـی کشـور هـای مختلـف انجـام دهنـد، در ایـن بـاره شـورای امنیـت سـازمان ملـل متحـد در سـال هـای ۱۹۹۳ و ۱۹۹۴، دو محکمـه بیـن المللـی کیفـری بـه ترتیـب بـرای یوگسـلاوی سـابق و رواندا تأسـیس کـرد تـا کسـانی را کـه بـه ارتـکاب جنایـات جنگـی در طـول درگیـری هـا در ایـن کشـور هـا متهـم بـوده انـد، محاکمـه کننـد .

نهایتـاً تـلاش هـای جامعـه بیـن المللـی بـرای ایجـاد یـک دیـوان دائمـی بیـن المللـی نیـز بایـد مـورد توجـه قـرار گیـرد. اساسـنامه ایـن دیـوان در شـهر روم در سـال ۱۹۹۸ بـه تصویـب رسـید و دیـوان در اول جنـوری ۲۰۰۲ در شـهر لاهـه آغـاز بـه کار کـرد. ایـن دیـوان بـرای رسـیدگی بـه جنایـات جنگـی و جرایـم بـر ضـد بشـریت و نسـل کشـی صلاحیـت دارد.

(عبدالحق – مرادی)



د خپلې خوښې "رضاکارانه" خدمتونو تاریخي شالید

ګل آقا فجر

جګړه او طبیعي پېښې د تاریخ په بېلا بېلو پړاوونو کې پېښې شوي؛ اوس مهال هم را منځته کېږي او په راتلونکې کې هم که وغواړو یا یې ونه غواړو؛ پېښېږي، ځکه دا یو ټولنیزعینیت دی. پر همدې بنسټ کله چې جګړه او طبیعي پېښې را منځته کېږي، نو پایلې یې یو ډول وي؛ یانې په دواړو کې مرګ ژوبله او ورانی رامنځ ته کېږي. همدا شان د فقر، غربت، لوږې، ناروغۍ، ویجاړۍ او نورو بدو پایلو سبب هم ګرځي.

لدې املې دا خبره په ډاګه کېږي، چې بشري ټولنه هر وخت له ناوړو پېښو سره مخامخ کیدای شي. جوته ده چې د طبیعي پېښو مخنیوی د انسان له وسه وتلې خبره ده، خو کولای شو د پوهې او تجربې په کار اچولو سره د هغو بدې پایلې را کمې کړو.

یو نیوزلینډی کارپوه، چې د بشر پېنځه زره کلن تاریخ یې په دقت او غور څېړلی؛ دې ویرجنې پایلې ته رسیدلی، چې د پېنځه زرو کلونو په اوږدو کې بشر یواځې ۲۵۰ کاله په نسبي ارامتیا تېر کړي او پاتې ۴۷۵۰ کلونه یې یو له بل سره په جګړو او شخړو کې

تېر کړي.

جګړه له تاوتریخوالي او خشونته ډک عمل دی، چې یو لوری غواړي پر بل لوري خپلې غوښتنې ومني. په خواشینی سره چې په یوویشتمه پېړۍ کې سره له دې چې بشر په بېلابېلو ډګرونو کې پرمختګ کړی؛ د دې ترڅنګ بربادوونکي جنګي ابزار او وسیلې یې هم تولید او زېرمه کړي دي. د بشرپالو هیله داده، چې هیڅ کومه جګړه پېښه نشي، ترڅو د بشریت ژوند او تمدن له نابودی سره مخ نشي او بشري ټولنه ددې وړتیا پیدا کړي، چې خپل منځي اختلافونه د خبرو اترو له لارې حل کړي.

تاریخ دا خبره په ډاګه کړې، چې په ځینو جګړو کې د مړو، ټپیانو او اسیرانو شمېر هومره زیات وي، چې پوځي روغتیایي کارکوونکي د هغوی په درملنه او پالنه کې پاتې راغلي، چې په پایله کې ددغو ناخوالو له امله د جګړې د ډګر ټپیانو خپل ژوند له لاسه ورکړی. په داسې حالاتو کې د خپلې خوښې خیریه ټولنې شتون ته اړتیا لیدل کېږي، چې د ټپیانو درملنه ترسره کړي او ددغه خواشینووونکو انساني غمیزو مخنیوی وشي.

همدا سبب و، چې د صدر اسلام په تاریخ کې دوه روغتیاپالانو (نعمان بن قره او قره بن ثابت) د خپلې خوښې خدمتونو پر بنسټ د جګړې په ډګر کې د ټپیانو درملنه کوله. پدې توګه نومورې د اسلام په تاریخ کې د رضاکارانه خدمتونو بنسټ ایښودونکي بلل کېږي.

وروسته په ۱۸۸٦ زېږدیز کال کې انګلیسي پرستار نایتنګل فلورانس، چې د یوه کوچني روغتون مسوولیت یې پرغاړه درلود، د خپلې خوښې فعالیتونو یوه څلوېښت کسیزه ډله جوړه کړه . په همدغه کال کې استانبول ته را ستانه شول؛ ترڅو د کریمیا د جګړې د ټپیانو درملنه وکړي.

د کریمیا په جګړه کې ترکان، روسان، فرانسویان او انګلیسان په خپلو کې سره اخته ول؛ د جګړې په ډګر کې د ټپیانو شمېر هومره زیات و، چې پوځي روغتیایي کارکوونکو نشو کولای د هغوی درملنې ته لاسرسی ولري. د ټپیانو په منځ کې د طاعون اپیډیمي هم ګډه شوې وه او هره ګړۍ چې تېریده زیات شمېر ټپیانو خپل ژوند له لاسه ورکاوه. په دغه ناوړه حالت کې مېرمن فلورانس له ملي حدودو بهر قدم کېښود؛ ځکه هغې خبر ترلاسه کړی و، چې د جګړې د ښکېلو لوریو ټپیان په ناوړه وضعیت کې دي. نومورې په دې انساني فکر او بشرپال عمل سره وکولای شول، چې د هغو زرګونو ټپیانو ژوند وژغوري، چې د مرګ له ګوابن سره مخامخ وو. د دغه بشرپال خدمت په پایله کې د ټپیانو مړینه له څلوېښت سلنې څخه دوه سلنې ته راټیته شوه. په دې توګه هغې د بشریت وجدان را ویښ، په ټولنه کې د خپلې خوښې خدمتونو روحیه ژوندی او د انساني ارزښتونو ملاتړ وکړ.

پداسې حال کې چې د کریمیا د جګړې ترڅې خاطرې له یاده نه وې وتلې، چې په اروپا کې د سالفرینو بله خونړۍ جګړه پېښه شوه. دا ځل د ایټالیا هېواد په شمال کې د سالفرینو په سیمه کې خونړې جګړه ونښته، په دې جګړه کې فرانسویان او ایټالویان له یوې خوا او اطریشیان له بلې خوا سره ښکیل وو. ایټالویانو

او فرانسویانو د اطریشیانو د پراختیا غوښتنې پر وړاندې قرار درلود. درې سوه او شل زره پوځیان په خپلو کې په جګړه بوخت وو او د جګړې په ډګر کې څلوېښت زره مړي او ټپیان



پرته له روغتیایي مراقبتونو او مرستو پاتې وو.

په دې وخت کې سویسي ځوان سوداګر هانري دونانت د فرانسې له پادشاه درېیم ناپلیون سره د سوداګریزو معاملو په موخه، چې د کاستیګلینو په سیمه کې مېشت و او د سالفرینو له سیمې څخه یې څلور کیلو متره واټن درلود؛ روان و، چې ناڅاپه د سالفرینو د جګړې له بد مرغې صحنې سره مخ شو. د مازیګر په وخت د اطریشیانو لښکر کې ماته ګډه شوه. اطریشي پوځیانو تر کومه بریده چې یې توان درلود خپل ټپیان له ځان سره یوړل، خو زیات شمېر نور یې د جګړې په ډګر کې په ناوړه حالت کې پاتې شول.

ددغه زړه بوږنوونکي وضعیت په لیدو د دونانت انساني عواطف او احساسات را وپارېدل، د کومې موخې لپاره یې چې سفر کاوه له هغه یې لاس واخیست؛ د خپلې خوښې (رضاکارانو) ډله یې جوړه او د ټپیانو په درملنه بوخت شو. پدې توګه نوموړی د معاصرې خپلې خوښې خدمتونو بنسټ ایښودونکی پېژندل کېږي.

دونانت وروسته بیا د "سالفرینو یادون" په نامه د کتاب په لیکلو د سالفرینو د جګړې د سترګو لیدلو ناخوالو سربېره دوه ارزښتناکو وړاندیزونو ته هم ځای ورکړ. لومړی د نړۍ په هېوادونو کې د خپلې خوښې خدمتونو ټولنې جوړېدل (سور صلیب او سره میاشت) ترڅو یادې ټولنې د جګړې په وخت کې د ټپیانو درملنه وکړي. اوس مهال د سرو صلیبونو او سرو میاشتو ۱۹۲ ملي ټولنې د نړۍ په ۱۹۲ هېوادونو کې تاسیس شوي دي، چې د جګړې او طبیعي پېښو قربانیانو ته بې توپیره اړینې مرستې رسوي کوي.

دویم د هېوادونو ترمنځ د داسې یو نړیوال ټرون رامنځته کېدل، چې د دغو رضاکارانو فعالیتونو ته قانوني بڼه ورکړي او د دوی ملاتړ تضمین کړي، چې دا وړاندیزونه یې د نړیوال بشرپال قانون یا جینوا د کنوانسیونو(د جګړې قانون) د رامنځته کېدو لامل شول.



کمک اولیهٔ صحی و وقایه از صدمات و جروحات

داکتر زلمی عبدالله

اصول و اساسات کمک اولیه

تعریف:کمک های اولیه صحی کمکی است که فوراً به یک شخص مریض یا مصدوم الی رسیدن کمک طبی انجام می شود.

چهار اصول مدیریت کمک اولیه عبارتند از:

۱- خونسرد و آرام باشید، ۲- خود و شخص مصدوم را به خطر مواجه نسازید ۳- حالت و وضعیت را اداره کنید تا دسترسی مصئون به شخص داشته باشید شخص را اداره کنید۴- تمام چیز ها را قدم به قدم انجام بدهید.

پنج قدمه برای فعالیت کمک اولیه:

ارزیابی

- وضعیت را ارزیابی کرده و خطرات را ببینید.
- قبل از رفتن بالای مریض مصئونیت خود را چک کنید.
- مطمئن سازید که وضعیت برای شما، مصدوم

و دیگـر مـردم تماشـاگر مصئـون اسـت. حالـت شـخص را بررسـی کنیـد.

- آیـا مصـدوم اختنـاق یـا خونریـزی دارد؟ در ایـن حـالات، فـوراً عمـل مناسـب را انجـام دهیـد.

- آیـا شـخص بـه هـوش اسـت؟ آیـا شـخص تنفـس دارد؟

طلـب کمـک: بخاطـر کمـک بـه آواز بلنـد صـدا کنیـد و یـا از کسـی خواهـش کنیـد کـه بخاطـر کمـک طبـی و اختصاصـی صـدا کنـد

مداخلات کمک اولیه را پلان کنید:

- پـلان کنیـد کـه بـر اسـاس بررسـی ابتـدای الـی رسـیدن کمـک اختصاصـی طبـی کـدام فعالیـت هـا و اقدامـات بایـد صـورت گیـرد.

- معلـوم کنیـد کـه بـا در نظرداشـت مهـارت هـا و چیـز هـای کـه شـما میدانیـد چقـدر کمـک کـرده میتوانیـد.

- مصئونیـت خـود را منحیـث رضـاکار مطمئـن سـازید.

انجام دادن کمک اولیه:

- کمـک اولیـه را بـرای وقایـع عاجـل تهدیدکننـده حیـات و صدمـات و جروحـات مشـخص بـه اسـاس بررسـی ابتدایـی عرضـه کنیـد.

- اگـر مصـدوم نزدیـک بـه مرکـز صحـی اسـت، عاجـل بـه انتقـال آن اقـدام کنیـد.

- امنیـت و مصونیـت خـود را در هـر مرحلـه در نظـر داشـته و بـرای کمـک انتظـار بکشـید

کمک اولیه روانی را عرضه کنید:

- با شخص و فامیل آن صحبت کنید.

- آنهـا را آگاه سـازید کـه چـه واقـع مـی شـود و شـما چـه مـی کنید؟

فعالیت ها و اقدامات کمک اولیه را بررسی کنید:

- کمـک طبـی و اختصاصـی را چـک کنیـد کـه بـه زودی خواهـد رسـید.

- چـک کنیـد کـه آیـا صحنـه مصئـون اسـت. اگـر مصئـون نباشـد، پـس دور سـاختن شـخص را بـه ر احتـی و احتیـاط تمـام هـر قـدر کـه زود ممکـن باشـد بـه کمـک دیگـران انجـام دهیـد.

- اقدامـات و فعالیـت هـا را در بررسـی دوبـاره چـک کنید .

- چـک کنیـد کـه بنـداژ هنـوز در جـای خـود اسـت و خونریـزی متوقـف اسـت. اگـر چنیـن نیسـت، پـس بنـداژ موجـود را دور نسـازید، بلکـه بـه شـکل سـاده، بنـداژ دیگـر را بـا فشـارلازم روی آن تطبیـق کنیـد.

- اگـر شـخص بیهوش شـود، پـس اقدامـات و فعالیـت هـا را بـرای حمایـت اساسـی زنـده گـی عرضـه کنید.

- شـخص مصـدوم را بـه پرسـونل طبـی یـا مسـلکی تسـلیم نماییـد.

- پیـدا کنیـد کـه کـدام شـفاخانه، کلینیـک یـا مرکزصحـی، شـخص مصـدوم را مراقبـت خواهـد کـرد.

- فامیل و دوستان شخص مصدوم را خبر کنید.

کمک اولیۀ روانی :

کمـک اولیـۀ روانـی، بنیاد و اسـاس حمایـت و کمکی را تشـکیل میدهـد کـه توسـط هـلال احمـر صـورت میگیـرد. کمـک اولیـۀ روانـی بـرای تمـام پروسـیجر هـای کمـک اولیـه بایـد درنظرگرفتـه شـود. کمـک اولیـۀ روانـی، بایـد بـدون درنـگ صـورت گرفتـه تـا حمایـت اساسـی، کمـک بشـری، دادن معلومـات عملی، نشـان دادن احسـاس درک و دلسوزی، نگرانی، احتـرام و اطمینـان بـه لیاقـت و قابلیـت شـخص متأثـر شـده، توسـعه داده شـود. اشـخاص متأثرشـده یعنـی کسـانی کـه ممکـن بـه کمـک اولیـۀ روانـی نیازداشـته باشـند: شـامل اشـخاص زنـده مصـدوم، دوسـتان و وابسـته گان اشـخاص متأثـر شـده، حاضریـن صحنـه، مراقبـت کننـده گان و کارکنـان امـداد مـی باشـند.

حالاتی که میتواند ضرورت کمک اولیه را به وجود آورد شامل تمام وقایع بحرانی مانند: حوادث، امراض، سانحه ها و تصادفات، جنگ ها و کشمکش ها میباشد.

چهار عنصر کمک اولیه روانی:

۱ .صمیمی باشید. شخصی که دربحران قراردارد به شکل مؤقتی احساس امنیت، مصئونیت و اعتماد خود را از دست میدهد. رضاکاران میتوانند اعتماد و احساس مصئونیت آنها را با صمیمیت، دو باره ایجاد کنند و باید رضاکاران تحت تأثیر اضطراب و احساسات شخص قرار نگرفته و خودشان وحشت زده نشوند.

۲ .با دقت گوش کنید. وقت کافی برای شنیدن دقیق، درنظرگرفته شود و شنیدن باید بدون عجله و به شکل فعال باشد؛ یعنی با پرسیدن سؤالات، به خاطر روشن ساختن اینکه شخص متأثرشده چی می گوید، نشان داده شود که شما فعالانه می شنوید. در صحنهٔ یک سانحه یا حادثه تا وقتیکه امبولانس میرسد، شخص متأثرشده را تنها نگذاریم.

۳ .احساسات شخص را احترام نموده و تصدیق کنید. درباره آنچه گفته میشود وسیع فکرکنید و تعبیرات شخص متأثرشده را دررابطه به حادثه قبول کنید. آماده باشید که ممکن با احساسات خشن و طغیانی مواجه شوید. شخص ممکن فریاد کند و کمک را رد کند ولی ما باید تنها به نمای ظاهری توجه نکنیم.

۴ .مراقبت عمومی و کمک عملی بدهید.

کمک اولیهٔ روانی فوری:

در حالتی که شخص نیاز فوری به حمایت و کمک بعد از یک واقعهٔ بحرانی دارد، قدمه های ذیل میتواند تعقیب شوند:

۱ . از طریق معرفی کردن خود و عرضه کردن



کمک با شخص، تماس برقرار کنید.

۲ . به هر طریقی ممکن است، شخص را از حالت فشار بیرون کنید.

۳ . تماس آنها را به نور، آواز و بویایی محدود سازید.

۴ .آنها را از تماشاگران و رسانه ها دور نگهدارید.

۵ . به شخص غذا و مایعات کافی بدهید.

۶ . یک نفر همیشه با شخص مصدوم همراه باشد.

۷ . از شخص پرسان کنید که چه واقع شده، به او اجازه دهید تا درباره تجارب و چشم دید خود، نگرانی ها و

احساساتش را بگوید.

۸ . هیچ کس را مجبور به حرف زدن نسازید.

۹ . به شخص اطمینان و قوت قلب دهید که تمام عکس العمل های شان نورمال است.

۱۰.اگر ضرورت باشد شخص را در تصمیم گیری کمک کنید.

۱۱. از شخص متأثرشده پرسان کنید که آیا جایی برای رفتن دارد و اگر نداشته باشد کمک کنید تا سرپناه پیدا کند.

دافغاني سرې مياشتې ټولنې نښان

د افغانـي سـرې مياشـتې ټولنـې نښـان پـه نـرۍ سـپورمۍ پـه سـور رنـګ کښـل شـوی او د دوه دايـرو پـه منـځ کـې شـتون لـري، پـه سـر کـې يـې د افغاني سـرې مياشـتې ټولنـه او لانـدې يـې جمعيـت هـلال احمـر افغانـي ليکل شـوي؛ د سـرې مياشـتې نښـان د دې ټولنـې د هويـت پېژندګلـوی بلـل کېـږي. دا نښـان د طبيعـي او غيـر طبيعـي پېښـو لـه زيانمنـو سـره د بـې توپيـره مرسـته رسـوني نښـه هـم ګڼـل کېـږي. د سـرې مياشـتې نښـان د جينـوا پـه ټرونونـو او ورسـره مـل پروتـو کولونـو کـې د نـړۍ د هېوادونـو لخـوا پـه رسـميت پېژنـدل شـوی او هـم د سـرې مياشـتې د چـارو د تنظيـم پـه قانـون کـې د دولـت لخـوا پـه رسـميت پېژنـدل شـوی، چـې دا ددې مانـا ورکـوي، چـې سـره مياشـت د دغـه نښـان تـر چترلانـدې کـولای شـي د جګـړې، نـا امنـۍ، تاوتريخوالـي او طبيعـي آفتونـو د پېښـېدو پـه وخـت کـې لـه زيانمنو سـره د مرسـتې پـه موخـه لازم اقدامـات تـر سـره کـړي او پـه دې ډګـر کـې دا صلاحيـت ورکـړ شـوی.

د سـرې مياشـتې نښـان دوه ډولـه کارول کېـږي:

۱- د ملاتړ (حمايت) لپاره.

۲- د پېژندګلوی لپاره.

د ملاتړيـز نښـان سـايز لـوی وي؛ ترڅـو لـه لـرې واټـن څخـه د ليدلـو وړ وي، د جګـړې او ناامنـي پـر وخـت کارول کېـږي ترڅـو ښـکېل لـوري د سـرې مياشـتې کارکوونکـي، رضـاکاران ، روغتيايـي مرکزونـه، دفترونـه ، ګدامونـه، د لېـږد رالېـږد وسـايط او نـور تاسيسـات وپېژنـي؛ برېـد پـرې ونـه کـړي او کـوم زيـان ورتـه ونـه رسـوي. د سـرې مياشـتې ملاتړيـز نښـان د جينـوا ټرونونـو او د دې ټولنـې د چـارو د تنظيـم د قانـون لـه مخـې روغتيايـي پوځـي ډاکټـران هـم اسـتعمالولای شـي، خـو پـه دې شـرط چـې پـه جګـړه کـې بـه برخـه نـه اخلـي او يوائـي د خپلـو ناروغانـو او ټپيانـو درملنـه بـه کـوي.

د پېژندګلـوی نښـان چـې سـايز يـې کوچنـی دی؛ يوائـې د سـرې مياشـتې کارکوونکـي او رضـاکاران کارولـی شـي او د هغـوی د هويـت څرګنـدوی دی. د سـرې مياشـتې د پېژندګلـوی لـه نښـان پرتـه د دې ټولنـې کارکوونکـي او رضـاکاران د بـل هيـڅ نښـان د کارولـو حـق نلـري. د سـرې مياشـتې لـه نښـان څخـه سـوء اسـتفاده پـه کلکـه منـع ده او هيـڅ د توجيـه وړ نـه ده. د ښلګـې پـه توګـه يـو څـوک پـه خپـل شـخصي موټـر کـې د سـرې مياشـتې نښـان نصـب کـړي او پـه هغـه کـې غيـر مجـاز توکـي لکـه مخـدره توکـي، وسـلې او غيـر قانونـي وسـله وال کسـان لېـږدوي. پـه دې صـورت کـې سـرغړونکی محکمـې تـه راجـع کېـږي او هـره پرېکـړه، چـې محکمـې وکـړه وربانـدې پلـې کېـږي.

د سـرې مياشـتې ملکيتونه لکـه دوکانونـه، مارکيټونه، سـرايونه او ودانـی چـې خلکـو تـه پـه کرايـه او اجـاره ورکـړل شـوي؛ نشـي کـولای، چـې پـه هغـو کـې د سـرې مياشـتې بيـرغ او نښـان وکاروي، ځکه د سـرې مياشـتې لـه نومـه نـا وړه ګټـه اخيسـتنه بلـل کېـږي.



اداره حوادث جمعیت هلال احمر افغانی بمنظور تقلیل آلام بشری و پاسخدهی به متضررین و آسیب دیده گان حوادث طبیعی و غیر طبیعی، در سطح ملی و بین المللی انجام وظیفه می نماید.



المان هیواد ته د افغاني سرې میاشتې له لوري د مانو هډوکو او په اور د سویو ماشومانو لېږد.